کابل

دمیزان (۱۶)
۱۳۳۱ ش

۳۲۲

د کچالو پاڼه

نه پوهېږم د کومې بختورې مېاشتې کومې نېک مرغې ورځې وې، چه زه اوته د یوه ښکلی وا ده
په ورا کښې خپلې برخې سره ملګری کړی وو د ناوې کلی د یوه جګ له ونو ډک غره خواته دشپې په سپینه
سپوږمۍ کښې داسې بر ښېده لکه د سپین مخ په رڼا کښې د ناوې ول ول توری څنې.

یوې خواته دواده له کاله څخه د خوږو سندرو خوږه انګازه دغره په ناوونو کښې تاوراتاو کېده
بلې خواته داورلمبو هم د خوشالۍ غړغړې وهلې او خوږو سندرو بولو، خیالولو ځوانانو، نا ز و لو
پیغلو تور پیکیو نجونو ګرانو ورابانو او درنو مېلمنو ته ئې ډوډۍ پخوله، تول نازولې د شپې د مینې
په غېر کښې لوېدل او ښکلی ګلالۍ ګلو کمار اود وربل مېرمنې ګډو د سره کښته پورته کېدل -

له بلې خوا نه د آسمان پیمخې لور له نورانې مخ نه پرونې لیرې کړې او په ډېره مینه د د ې ښکلی
واده د ښایسته سندر غاړو د ښکلو مخونو نندارې کوله او د دوی خوازه غېږ ته ئې غوږونه جوړه نیولې وو،
شپه په همدې خوندونو کښې تېر بدله، او جونو په خوږو بدلو کښې خپله ناوې ستایله او سپوږمۍ ئې سپین
مشال په لاس تماشې ته ولاړه وه -

د دې خوږې شپې د خوند او خوږ والې نورې قصې د اسمان له پیغلې لورنه وپوښتې - او ما پرېږدې،
چه په واپس تلو کښې د ښایسته ټولې سره دلارې ملګرې شم.

سهرچه د سپوږمۍ پلوشو خپل ځای د نمر وړانګو ته پرېښود نو د ناوې د وې د دلارله کاله نه د جنجیانو
او ورابانو په تېل کښې لوی سړک ته راووتله - څوک په موټرلارې کښې کېناستل څوک بګیو او تا نګو ته
وختل - د هرچا سره د زر رسیدلو هڅه وه تر ټولو وروسته زمونږ بګۍ وروورو د خپل کلی لا ر لنډ و له
بګۍ وان لکه چه د دوو زړونو د مینې د رزاوا وربده د ګاډۍ آس هم په دې راز پوه شو، نو په ورو ورو
تګ کښې ئې زمونږ د زړونو د خوشحالۍ ټوپونو ته غوږونه ونیول د لمر تاو کړې - په کړې - زیاتېده، د مینې تنده
زړه ته پریوته او له پستو ښونه وخته یو خوږ نری غږ راووات (تېرې شوم لېرې او به خښم) تا نګه ودریده
ما له بګۍ نه ټوپ کړل، ویا له خود سرک په غاړه د کېبهیدله لا کن د اوبو را اخیستلو لوښې نه ؤ په لپه کښې او به
راوړل کران وو - رښتیا ده چه د خوږو زړونو چار په هیڅ ځای کښې نه ګوډېږي، هلته نزدې د کچالانو په یولوی
پټې کښې د کچالو لویې پلنې شنې تنګې پاڼې وروورو رېپدلې، ورغلم د کچالو یوه پاڼه مې راو شکو له
د ګټورې پشان مې راتاو کړه، او به مې پکښې راواخیستې او د وربل مېرمنې ته مې راوړې - دې د کچا لو
د پاڼې په څنډه خپلې سر کې شونډې کېښودې په مکیز مکیز ئې د کچالو د پاڼې او به د شونډو په سر ز ېښلې
ما ئې د شونډو د وروورو خوځېد ونندارې کوله او دې د ښولاندې زما د الوتلې رنګ (ښې) تر وری
خېرې له نندارې څخه خوند اخیست نه پوهېږم چه په دې وخت کښې به څوک زیات خوشحال او خوښ من وو
زه که دا، که او به او که د کچالو پاڼه !؟!(ر، ن)

د(۲۲) کال (۱۳) گ

دمیزان (۱٦)
۱۳۳۱ ش

دمحرم الحرام (۲۰)
۱۳۷۲ ق

داکتوبر (۹)
۱۹۵۲ ع

پته :
پښتو ټولنه
کابل
افغانستان

دتیلفون لمبر
۲۰۴۷

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی مجله

دپښتو ټولنې دعمومی مدیر

صدیق الله رښتین

ترکتنې وروسته خپرېږی

چلوونکی : نور محمد «پوونده»

داشتراک قیمت :

دکابل په ښار کښی	په دننه هېواد کښی	په نورو ملکو کښی
۳٦ افغانۍ	۴۰ افغانۍ	۴ دالره

ددې ګڼې لیکنې

لیك	لیکونکی	مخ
پښتو او معارف	ښاغلی رشتین	۱
شرف	دښاغلی عبیدالله (صافی) ترجمه	٤
عمر ملك	ښاغلی :م « ننګرهاری »	۸
نوې تر کیه	د « سیفی » ترجمه	۱۱
دمرحوم مستغنی یوه بوالمه (قصیده)		۱۵
پر پشانه افکار	ښاغلی درد مند	۱۷
پیدا کره	پیغله « مستوره »	«
د سینې پیوند	ښاغلی « اونګین »	۱۸
زما دزړه آواز	« بختانی	۲۰
زما دستر ګو توره !	دښاغلی « سیفی » ترجمه	۲۱
اوزد ژوند	ښاغلی پرهیز	۲۲
دفطرت رمزونه	د « (فهیم) ترجمه	۲٤
پښتنولی	ښاغلی (خادم)	۲٦
دپښتو قصې	د « (جرار) ټولونه	۳۰

دتېرې ګڼې د (۳۱) مخ په (۲۹) سطر کښې طباعتی غلطی شوی په دی لاندې دول دې تصحیح شی

(لا اله الا الله محمد رسول الله)

پښتو او معارف

تقریباً له پنځلسو شپاړسو کالو را هیسی زمونږ پښتو غوښتو نکی حکومت دپښتو ژبه د ژوند د کرته را ویستلې ده او په معارف او اخبارونو کښې ئې ځای ور کړی دی په دې خبره چه پښتو د افغانستان دپاره څومره ضرور ده زه هیڅ بحث کول نه غواړم ولی چه دیو ښکاره اوڅر ګند حقیقت د پاره د دلیلونو راوړلو څه ضرورت نشته. زما مطلب دلته دپښتو دپرمخ تګ په شاوخوا کښې یوڅو خبری کول دی.

دپښتو دپالنې اوروزنې یادترقی اوپرمخ تګ دپاره دوه مرکزونه دی، یو دمعارف وزارت اوبل دمطبوعاتو ریاست. په مطبوعاتو کښې چه دپښتو دپاره کوم کار شوی دی اویا کېږی هغه هرچاته څر ګند اوهرڅوك ترې خبردی پښتو تولنی دپښتو دعلمي کولو دپاره ډېر کتابونه نشر کړل، یواخبار اویوه مجله په پښتو نشر یږی دمطبوعاتو په درستو اخبارونو کښې دپښتو نشریاتوته برخه ور کړ شوې ده، دپښتو کورسونه په ټول وطن کښې په ښه شان چالان دی په پښتو کښې دا یرة المعارف خپرېږی غرض دا چه یو تماشګیر او دریمګړی سړی ویلای شی چه پښتو په مطبوعاتو کښې ورځ په ورځ مخ په وړاندې روانه ده اوخپل موجودیت ئې ساتلی اوځان ئې څر ګند کړی دی.

لاکن په معارف کښې د پښتو مسئله په دې ډول نه ده هغه وخت چه والا حضرت سردار محمدنعیم خان دمعارف وزیرؤ نو په معارف کښې د پښتو دپاره ښه اساسونه اېښودل شوی وو، په ټول افغانستان کښې ابتدائي تعلیم په پښتو او ښتی وو، تر شپږم ټولګی پورې درست کتابونه په پښتو شوی وو، نورهم دتعلیم اوتربیی دریاست له خوانه چه دیو پښتو پوهاند له خوا اداره کېده ډېرښه تعلیمی کتابونه په پښتو نشرېدل، دپښتو معلمانو د روزنې دپاره یو مستعجل کورس جوړ شوی ؤ. په دا را لمعلمین کښې د پښتو معلمانو دروزنې دپاره پاخه پاخه پروګرامونه تیار شوی وو، اوپه دې ډول په معارف کښې دپښتو دترقی کاروان په ښه شان په خپله لاره روان ؤ، لاکن په ۱۳۲۵ کښې یوه نوې هوا راوالوته اومعارف دپښتوپه برخه کښې خپل جوړ کړی پروګرام په بل مخ واړاوه،

افغانستان ئی دفارسی اوپښتوپه منطقو ووېشه، اودفارسی اوپښتوپه نامه په مملکت کښې یونوی بیلتون اوتفریق ته قایل شول. په دې کار کښې بې له یو د و وتنو څخه له نورو پښتنو سره سلا مشوره ونشوه او معارف په خپله خوښه د پښتو په مقد راتو لو بی و کړې، پس له هغه چه پښتنوپه ښکاره څه ونه ویل نو د کابل ولایت هم دفارسی په منطقه کښې شامل کړی شواو بی له کوم منطق څخه دغه فیصله وشوه . حال دا دی چه د کابل په ښار او خواو شاو کښې لکه لوگر، پغمان، کهدامن او نورو کښې دپښتو و یونکی زښت ډېردی اوځینې حکومتونه خو بیخی د پښتو منطقی گڼل کیږی .

په دی ډول ورو ورو له ابتدا ئی تولگیو څخه دپښتو قرأتونه هم وو تل، په ۱۳۲۱ کښې چه دپښتو دترقی دپاره په معارف کښې د (پښتو ستر توب) په نامه یوریاست جوړ شوی ؤهغه هم له منځه لاړ. اوپه دې صورت په معارف کښې دپښتو هنگامه له خپل دپ نه ولوېده.

یووخت معارف په خپل مرام کښې لیکلی وو :

معارف کوښښ کوی چه له دارالمعلمین څخه داسی کسان راووځی چه په سلو کښې سل دټول افغانستان په ښونځو کښې دپښتو پرو گرام تطبیق کړی شی او داسی معلمان وروزی چه پښتودان، پښتو خوان اوپه پښتو کښې لیکونکی وی (د۱۳۲۱ کالنی ۶۱ ص)

لاکن نن دپښتوپه منطقو کښې داسی معلمان شته چه په پښتونه پوهیږی اوهم خپل وخت اوهم د شاگردانو وخت عبث تېر وی .

تراوسه پورې چه هرڅه وشول هغه وشول، له ورځه تېری اوبه په بیرته نه جاروزی - مگر وروسته دپاره پکاردی چه دمعارف د وزارت پوهان په پوره همدردی او غمخوری دمعارف پرو گرامونه جوړ کړی اوداسی اساس کېږ دی چه سبائی بیاپه ړ نگولو مجبور نشی په اوبو کښې لوته کېښودل اوترهغه تېریدل هوښیارتیا نه ده .

پښتو دافغانستان دا کثرو اوسیدونکو ژبه ده او دیو نسکو دنمایندگانوپه قناعت په سلو کښې پنځوس ویونکی لری اوفارسی په سلو کښې څلو یښت ،

نوپه دی لحاظ داژبه دژوند حق لری اوباید چه په معارف کښې دخپل شان سره ورځای ور کړی شی. په دې سلسله کښې غواړو چه یوڅو خبری دپیشنهاد په صورت معارف ته وړاندی کړوچه دوی پرې غور و کړی اوبیائې دعمل د گرته را وباسی ،

۱- ښایی چه په معارف کښې دپښتو ستر توب ریاست بېرته تشکیل اوپه کار پیل و کړی په دې ریاست کښې باید لایق لایق پښتانه داخل کړی شی چه دپښتو دتا لیفاتو او ترجمو کار په بیړه پرمخ بوځی .

۲- ښایی چه دپښتو دتالیفاتو او ترجمو د کتنې او تصحیح دپاره دپوهو لیکوالو یو کمیسون جوړ شی او دهغه کمیسون تر کتنې وروسته دمعارف پښتو کتابونه نشر شی ،

۳- دمعارف آمران هم باید په پښتو ښه و ټو هیږی چه د پښتو مرا قبت و کړی شی .

٤- په پښتو منطقو کښې باید پښتانه معلمان ،سرمعلمان او مدیران مقرر کړی شی چه په پوره غمخورۍ دپښتو تعلیمی پرو گرام پرمخ بوځی .

٥- ښایی چه دپښتو معلمانو دروزنې او تربیې د پاره یو ځانله دا رالمعلمین جوړ شی اویا په موجوده دارالمعلمین کښې دپښتو تعلیم په مخلوط اومشترك صورت شامل کړی شی مثلاً له اسو مضامینو څخه باید پنځه په پښتو اوپنځه په فارسی تدریس کړی شی .

٦- دمرکز په نورو مسلکی او عالی ښو نځو کښې لکه دلیك د اصولو ښو نځی، دزراعت لیسه، داقتصاد لیسه اوداسی نورو کښې هم باید چه مخلوط تعلیم یعنی په پښتو او فارسی گډوډ جاری کړی شی- ولی کوم شاگردان چه له پښتو منطقو نه راځی هغوی دپارسی له عالی تعلیم څخه گټه نشی اخیستلای اودا ددوی په حق کښې یوه لویه بی عدالتی ده

۷- دطب په فاکولته، دحقوقو په فاکولته او نورو کښې بایدپه مساوی صورت په پښتو پوهیدونکی کسان هم واخیستلی شی ولی چه وطن پښتنو دا کترانو او حقوقیونو ته هم ضرورت لری.

۸- خارج ته باید په پښتو پوهیدونکی شاگردان ولیږلی شی چه دلایقو پښتنو د لږوالی مسئله هم حل شی ،

۹- دعرفان په مجله کښې باید پښتو ته نیمه برخه ور کړی شی ،

۱۰- دمعارف مشران باید په خپلو کنفرانسونو کښې د پښتو تبلیغ هم خپله وظیفه وبولی. که چیری دغو پورته خبرو ته په اساسی صورت توجه وشی نو امید دی چه دپښتو او فارسی مسئله به په ښه صورت حل او وطن به ټول یو شان له معارف نه فایده و اخلی او که په بی پروا یۍ ورته و کتل شی نو پښتانه به دهمیشه د پاره نا آرام او نا کلاره وی او ددوی نا کلاری او ناخوښی دوطن دپاره فایده منده نه واقع کیږی!! (رشتین)

د « عروة الوثقی څخه »

دښاغلی عبید الله « صافی » ترجمه

شرف

یوه کلمه ده چه هرچا ورځنی یو رنګه تعبیر کړی دی . مګر ډیرئی دحقیقی معنی څخه بیخبر دی یوه ډله ئی په لوړ وما نیو ، په ښکو لو کړ کیو ، په ښایسته دیوا لونو ، په ډیرونو کرانو ، د اسونو په ساتلو دګاړو او بګیو په سپرلیو کښی ګوری — بله ډله ګمان کوی چه دښو کالو په آغوستلو ، او په رنګارنګ او راز راز جامو کښی ، په قیمتی ملغلرو ، په بیش قیمته ګاڼو لکه الماس ، یاقوت ، زمرد او نور باندی ځان ښایسته کول دی . دبلی ډلی په خیال کښی داده چه شرف په القابو او خطابو نو کښی دی لکه بیك ، پادشا ، او یا په نشانونو او لوړ ونو مونو کښی دی لکه دپلانی ډلی مشر او دپلانی د رجې دویم ...

تردې پوری یو سړی به وینی چه دخپل ورور مال به تښتوی . دخپلو خپلوانو یا دخپلو ملی او وطنی ورونو ، شته به لوټ کوی ددې دپاره چه دشرف خاوند پری ځانته ماڼۍ جوړه کړی او ښه ئی لوړه کړی ، او ښه ئی پری ښایسته کړی او چو پړی او نو کران پرې ودړوی — دلته نو دی ګمان کوی چه زه ابدی لو یوالی او دایمی افتخار ته ورسیدلمه . او زما سره جوړیږی چه اوس را ته خلك شریف وو ایی همدغسی یو بل به وی چه په ډیرو ناوړه کارو به بخت او پدې صرف ددی دپاره خوښ وی چه ښایسته جامی واغوندی او دخپلو امثالو سره ځان په ښو جامو برابر کړی ، او دده په زړه کښی دار اشی چه اوس نوما حقیقی شرف وګاټه یو دریم ګړی لا په دی ډله کښی پیدا کیږی چه ټوله ورځ او کری شپه چرتونه وهی چه زبه لقب او منصب څنګه مونده کړم او یا به یو نشان څنګه په سینه کښی و ټومبم — که څه هم ښارونه پری ویجاړه ، جامعه پرې ذلیله ملت پرې وشیلیږی ، نو هر کله چه دی کامیاب شی ، وایی به چه دشرف وروستی لوړی پایې ته زه رسید لی یم .

موږ وینو چه دی راز وهمونو دخلکو په زړو نو کښی دشرف دحقیقی معنی ځای نیولی دی — او ددغو خلکو دحق پېژند لو ستر ګی تردغی اندازی ړندی شوی دی چه دوی بیرته دخپلی خطأ ادراك نشی کړی او څه چه ددوی په وهم کښی حق څر ګند شوی وی ، دهغی نه به وانه وړی .

ایا داسړی په خپل ځان کښی څه ګوری ، په خپلو ماڼیو ، نو کرانو باندی فخر کوی . آیا داسړی دومره پوهېدای نه شی چه که څه هم دی داسی یوې ظاهری مرتبی ته ور سیږی چه عقل دهغی تصور هم لا نه وی کړی لیکن دده هغه خپل ځان چه دهر څه نه ورته ګران او خوږ دی په حقیقت کښی ئی هیڅ کمال ګټلی نه دی او دغه ظاهری مرتبه که ده ته ورغلې ده ، هغه خو په حقیقت کښی ورځنې پردی ده ، او ددې داسی مثال دی لکه یو سړی چه دیو شی دلاس راوستلو قصد وکړی اما ګوتو ته لا نه وی ورغلی — آیا داسړی دې ته هم نه ګوری چه ډیر هغه کسان چه دده اندازی ته رسید لی او یا ترده هم پورته شوی وی دزمانی انقلابونو هغه شی چه دی ورباندی خو شاله وو ورځنی اخستی دی او دی په خپل پخوانی حال پاتی شوی دی نو که ددغه سړی کومه خوا انسانی کمال ته ور ته نه وی ، نو دی به په ټیټو وګړو کښی پاتی شی چه نه به په زړو نو کښی ځای لری او نه به مجلسو نو کښی کوم نوم .

دی به په څه وپوهیږی ؟ ښکلی ګاڼی او جامی چه دده نه وویستلې شی او دی دځان سره کښینی او د فضیلت ګاڼه او د کمال ښکلا ونه لری — نو آیا دی او لوڅ لپړ فقیر ان سره برابر نه دی — او ایا ده ته به ځان په پټه کښې دسرود ګر وښځو او ډمو په شان نه ښکاری .

دډیری جګی رتبې خاوند، او په نشان باندی افتخار کوونکی څه تصور کوی؟ که چیرې پخوا د رتبې آخستلو او پخوا د نشان آخستلو نه دیو ځلاندی حالت او دیو لوی کمال څښتن نه وی - نو که د ده نه د رتبې لباس او نشان واخیست شی ارو مرو دی بیرته په هغه زړه خواری کښې پاتی کیږی. د ځینو سادګانو په عقیدې کښې دغه راز رتبی او نشانونه عینا لویوالی او شرف دی اما حال دادی چه لقب پر ده زوړند دی او د خلکو تعظیم لقب ته دی، نه ملقب (سړی) ته آیا دا لویوالی دده څخه په منډه تلونکی یو شی نه دی؟ بلکه یو ظاهری ښکل دی چه د ننه زړونو ته ننوځی - هو کی! دا شریف القاب یو لوی شان لری او سترګی پری جګیږی. خو هغه وخت چه د عالم وګړی دده د کار د کبله دده په شرف قائل وی ګویا دغه لقب دده په کار دلیل او یا دده کار ته اشارت وی - لکه څنګه چه د القاب بو حقیقی حیثیت هلته ورکیږی چه دیو داسی کار د کبله ئې نشان او لقب اخیستی وی چه د بشر عقلاؤ هغه کار غټه ګناه ګڼلی وی - اوس نو ګوره فکر کوه چه خطا نه شی او د حقې لاری نه لیری لاړ نه شی (عثمان غازی) چه دده غلیمانو ورته د زمری لقب ورکړی ؤ رتبه ئی و مونده او لقب ئی واخیست او دده د دولت دغټانو د لوئی طبقی نه لوئی رتبی ته ورسیده مګر دا کله؟ دا هغه وخت چه د ملی مدافعی د کبله ئی پخپلی روح سره مدافعه وکړه او د خپل دین د کلمی د پاره ئی جهاد وکړ چه دده د ښمنان او دوستان ټول په دی شاهدان دی، همدغسی ځینی امیران په اسلامی ملکونو کښې شته چه شریفه القاب دیو دولت د خوا لکه (انګلیس) دوی ته ورکړ شوی وی ولی د داسی یو خدمت په مقابل کښې چه د دوی عسکر ئی په خپل مملکت رانه ایستلی وی او انګلیسانو ته ئی ځای ورکړی وی (چه اوس ټول مسلمانان کوښښ کوی چه بیرته ئی وباسی اما ایستلی ئی نه شی) اوس نو تاسې د غازی عثمان د نشان او د دغسی کسانو د نشانونو فرق وکړی زه ګمان کوم چه که ته د غو د واړو رازو نشانو ته په ځیر شې پوه به شی چه د نشان شرف په عمل سره دی که عمل شریف و، نشان ورسره ښائې او شریف دی، او که نه و، نو نه دی. زه نه نپوهیږم چه دغه کسان څه شی غولولی دی او د سمې لاری څخه ئی اړولی دی؟ منلی خبره ده چه د سرو وینو په دارو لمبیدلی جامی داسی شی دی چه د اغوستونکو ښه نوم تل تر تنه ښه ساتی او داسی ښه اثر ګټی چه ترابده نه ورک کیږی. په رښتیا سره هغو کسانو چه د خپلو ملتونو د لویوالی د پاره ئې وینی توئی کړی وی، هم دوی دی چه د دوی نوم اخیستلو ته سرونه ټیټیږی - آیا دوی نه پوهیږی هغه کسان چه خپل خوږ عمر ئی په تورو کوټو او د بندی خانو په تیارو کښی دیو لوټ شوی حق په غوښتلو کښی، او یا د موجوده لویوالی ساتلو د پاره تیر کړی وی - دا هغه کسان دی چه د دوی نوم د جګ غره شرف ته ختلی دی، او د دوی نومونه پر ټولو نومونو لوړ دی او لوړ به وی. زه ګمان کوم هغه کسان چه په جګو ماڼیو کښی ناست او د خپلو باغونو او باغچو په نندارو تیر وی، او دوی خپل شرف د خپلو ماڼیو په شرف کښی ګڼی، او دوی خپل ژوند د دغو شیانو په نفع اخیستلو پوری محصور ګڼلی وی د دوی د پاره په دنیا کښی هیڅ برخه او هیڅ شان نشته پر ته د دی نه چه د دوی د خپلو کورونو په چارد یوالونو کښی دغه نوم ولری او بس. دغسی حال د هغو کسانو هم دی چه د دوی ژوند په عیش او هوسائی کښی تیر وی، او د ور ښمو پاسته کالی اغوندی، دوی هم لاړل، او څه وچه ورسره ؤ هغه هم ورسره لاړل، د کوم ځای نه چه راغلی وو هلته بیرته ورغلل، پته ئی نشته چه کله دنیا ته راغلی وو او کله ورځنې لاړل، - آیا موږ او تاسی چیری اوریدلی دی چه کوم سړی چیری یاد شوی دی په دی چه پلانی نشان ئی اخیستی ؤ، او پلانی رتبی ته رسیدلی ؤ. هو کی! دا وائی زده کړه

ئی وکړه او کارئې وکړ، ورکړه ئی درلوده او جهادئې وکړ، جګړه ئی وکړه، په کارئی شروع وکړ او سرته ئی ورساوه، یا نورداسی کارونه ئی وکړل چه دهغو دپاره ثابت او ښکاره اثر پاتی شو دنیا کښی کوم وخت چه لوی سکندر یادشی . ایا چیری هم لومړی داپه زړه کښی تیریږی چه ماڼۍ ئی در لوده؟ همدغسی کوم یو بوله به وی چه دی پوښتنه وکړی! ناپلیون په څنګه ماڼۍ کښی اوسېده، او یا ئی نوی جامی او یا ئی څیری اغوستلی، او آیا دعالم غټان دشرف مقام ته وروسته دماڼیو جوړولو او دهوسایۍ ژوند نه رسیدلی دی، او که نه؟ وروسته ددی نه چه ښارونه ئی فتح کړل، او غالبه شول - ډیر خلك غو لید لی دی او وهمونو تیرایستلی دی- دخپلو وطنونو شان او دهغو لویوالی ئی په داسی نومونو خرڅ کړی چه نن مسمی نه لری او ددوی ګمان دادی چه ګوندی موږ شرف ته رسیدلی یو- نور خلك هم لا په دې تر اوسه پوه شوی نه دی چه رتبو او نشانونو دخپل حد نه زیات تجاوز کړی دی او غیر اهل ته ورکړ شوی دی، نو که دوی چیری حقیقت ته غاړه کښیږدی او سترګی واړوی چه څه شی پردوی باندی احاطه کړی ده دوی به پوه شی چه په ډیرو ټیټو ځایونو کښی او دسړیتوب نه په لیری ځایونو کښی دغه درتبو خاوندان اوسی . او پوه به سی چه دشرف په معنی دسره دوی پوه شوی نه دی او وبه وائی چه بیشکه موږ خطا شوی یو- که دوی وګوری چه ددوی په وطنو کښی څه حال دی، او څه راز خواری او شرمندګی دوی ته او ددوی اولاد ته متوجه ده نو یو دم به خپل نشانونه وغورځوی او دپښانو جامی به واغوندی او دیو حقیقی شرف په پلټنه پسی به منډی ووهی .

شرف یو حقیقت دی چه شریعتو نوئې تعریف کړی او عقلونو بیان کړی دی او څوك چه دسړی په بڼه وی هغه ددغه حقیقت په پوهېدلو کښې کوم شك نه راوړی- مګر هغه څوك چه په زړه ئی پاك خدای مهر لګولی دی او په سترګو ئې پردی راځړیدلی وی .

شرف دشخص دپاره هغه قیمت دی چه سترګی ورته اوړی او زړونه ورته متوجه کیږی، او داسی ښایست دی چه دسترګو دکسو او دفکر درڼانه نه وځی. او ددی قیمتی خصلت اثر په کار سره معلومیږی، او ارو مرو دهغه دپاره اثر په خپله جامعه ، او یاد نوعې په ابناؤ کښې موجودیږی لکه چه د تهلکی او خط نه خلاصول- دوطن نه ناپوهی او بدبختی ایستل، دیو تللی حق غوښتلو دپاره خلك پوهول، دوطن او جامعې تیر لوړ نوم خلکو ته یادول، کار او زیار ته خلك متوجه کول، دخلکو ویښول ، عمومی ښېګڼې ته لارښونه، دعمومی غمنا که شر نه خلك خبرول، داخلاقو ښایسته کول، دعقلونو پخول، خلك په یوه خبره سره راغونډول، دخیر نوی رابطه پیدا کول، زوړ قوت بیرته لاس ته راوستل ، د ضعف نه ځان ایستل د حمیت داور بلونه، په خلکو کښې غیرت اچونه او داسی نور، نو هر هغه څوك چه ځان یو د دغو صفاتو څښتن وګرزوی، هغه سړی شریف دی که څه هم دی په جونګړو او کوډلو کښی اوسیږی، او کند او ټوټی واغوندی، او دنبا تا تو په پاڼو شپې تیری کړی، او دفقر په خاور وکښی څملی، او زیږه زمکه دخپل سر بالښت کړی، او په ده یوه شپه هم هوسا تیره نه شی — دا یو داسی صفت دی چه دده دعمل ګاڼه دده دفضل ښایست دی، دده کمال قیمت دی، دده کوشش رڼا ده او چاچه دا بیاره ورکه کړی وی په دغه رڼا لارموندلی شی، خوږ زړونه پرې رغیږی، او ورځنې نه بېلیږی دی دخپلو روحی خصلتو نو لوړه ماڼۍ ښا یښته کړکۍ ، لوی ښایست لری، لویه رڼا لری— دا ښایست قطعاً پټیدای نه شی ترڅو چه ښکاره نشی دا ښکلانه پټیږی ترڅو چه ونه لیده شی- ددنیا ښی خبری ده ته راجع کیږی

اودغې اندازې ته ئې رسوي — دده ژوند او دده کار نامې دزمانې په تندي کښې يوه سپينه پلوشه ده هو کې دفاسد و طبائعو خاوندان داسې سړي پړ بولي، بدي خبري ورته کوي، دملامتي غشي دده په سينه کښې ښخوي. او دد وي په نظر کښې دده داعمالو رڼانه معلوميږي، دده داعمالو د باغچو او ګلو نو عطر دد وي په سپيږمو کښې نه ننوځي — ځکه چه ددوي داد راک نه دغه خبري ډيري ليري دي او دد وي حواس هم دده اعمالو ته نه شي رسيد اي، ځکه دوي دغسې ټيټه روزنه موندلي ده چه ناوړه شيان ورته شرف بريښي، او هغه لوي ګڼي.

دشرف دغه معنی لکه چه شريعتونو بيان کړيده او عقلاؤ ښودلي ده موږ هم هغسې بيان کړه — ليکن هغه کسان چه دشرف په دغه معنی نه پوهيږي دهغه دچوړ يانو مثال دي چه د ګل دبوي نه تښتي او دنا ولياو سره ئې الفت آخستي وي کيد اي شي چه په دغسې عامل، فاضل پوري ځينې نا پوهان چه داخلاقو څخه کومه برخه نلري. ملنډې ووهي، اوده ته دضرر رسو لوقصد و کړي، ليکن دوي په حقيقت کښې په خپل ځان پوري ملنډې وهي- اودخپلو مصالحو اوښېګڼو په ضرر کښې به وي په دوي باندي به لاډير وخت تېر نه وي چه دده دزيار ميوه به پخه ښکاره شي همدغه کسان به وي چه د خوړ لو او راشکولو قصد به ئې وکړي. بيا به نو دلته د هغه چا په ستاينه کښې وي چه دغه و نه ئې کښېنولي وي او ميوه ئې ورته ساتلي وي، دلته به په خپلو خطاؤ پښېمانه وي او پخپلو بدو به افسوس ښکاره کوي او په زړونو کښې به ئې در دوي چه ايا موږ ولي دغسې ور سره وکړل- اود خپل وجدان په نقص او نيمګړتيا به پوه شي - دغه الهي عنايت دغه کرامت ديو شريف عمل څښتن ته ترڅو پوري چه ژوندي وي خدا ي ور په برخه کړي دي، او کوم وخت چه دده دژوندانه لمر پريوزي- هم دده د شرافت بلو شې نه پټيږي. او دغه رنا به دده دهدايت په نورو ستورو او سپوږمۍ هم ترابده لګيږي- هو کې دي به مړ شي او دده جسم به دعدم په حجاب ننوځي ليکن په روغو زړونو کښې به دده ځاي وي، دژبو په څوکو به دده نوم وي، دخداي درزق نه به دي متمتع وي څه بهتر ژوند دي دده ژوند

و لمثل هذا فليعمل العاملون ط

پخوانی پښتانه

لیکونکی : م . ننګرهاری

عمر ملک

دخویزو ، ګوشتې نه چه مخ نېغ په «سر کو» ډاګ روان شي نوچه د «ګوسړی» دسختو او ستغو کولیونه روغ تېرشي او د ګوسړی په کنډو واوړي د «شګو» د «خوړ» نه ایسته داعلاقه ډېره اواره اوږده او سره وره پرته ده د کر، کیلې ښې ښې زمکې، دغونډو په سرونو ډنګې او اوچتې چینی پکې دی ، داعلاقه ان د «خاپښ» تر کنډو پوری «بهی» بلله شی — د ننګرهار هغه لار وه چه دمومندو په لار دمحکوم پښتو نستان سیمې ته کوز یږی په همدې «بهی» تېریږی او لکه چه مخکې مووویل په دی ترتیب به خاپښ ته ووځی — بهی په پخواو ختونو کې له دېنه هم زیاته دتلو راتلو لار وه هغه وخت چه دمغولو حکومت په دی وطن کې ؤ نو بهی دمغولو د قافلو او کاروانو نو نه یووخت هم نه خالی کېده ، په بهی کې دمغولو دوخت یولوی رباط اوس هم آثار لری چه په «بهی کلا» مشهور او یاد یږی —

ددغې نوموړې اومشهورې لاری په سر یوولس پروت دی چه په «کوډاخېلو» یاد یږی — کوډاخیل لکه دنور وقبیلو غوندې دمومندو یوه پښه ده اوشاید ددی قبیلې دنیکه «نوم» کوډ اباباؤ کو ډاخېل دنفو سود شمېر په لحاظ نسبت دمومندو نورو خېلونو ته ډیر لږ دی او چه دیوه سره ئی وشمارې نود غره کوډ اخېل له دوه سوه نه ډېر ملاتړ نه لری — مګر دنامه او شهرت په لحاظ دمومندو دهری قبیلی نه تېردی او ترې وروسته نه دی پاتې شوی —

تر کومه حده چه مونږ پوهېږو کو ډاخېلو په هر وخت کې ځینی ډېر د کار سړی موندلی او ګویا کوډاخېلو ددغو نومیالو مشرانو له برکته شهرت ګټلی او هر چاپېژندلی دی — لکه چه زمونږ ګرانو لوستونکو ته څر ګنده ده نسبت دپښتنو نورو عشایر وته په مومند قام دیر غلګرو اومتجاوزینو جنګونه ډیر راغلی او دوطن او ملیت دغیلمانو سره تر هر چا ډیر جنګېدلی دی —

د (کلفورنیا) په یو نیورسۍ کښې پښتنې محصلې په ملي لباس کښې

نور محمد «پوونده» ددې مجلې چلوونکی

دمیارو ښان علیه الرحمه په ملګر تیا، یا دمیرویس بابا یاد احمدشاه باچا په رکاب کې چه دمومندو سربازۍ را یادې کړو یاد خوشحال خټک په عصر کې دمومندو دستر مشر اولوی قاید ایمل باچا کار نامې وستایو نودا به نسبتا دتېر او لری تاریخ خبری وی مګر دسکهانو اوپیر نګیانو سره دمومندو لاس په لاس جنګونه نژدی اودهغو برچو اونیزو خرپهارلا اوس هم دجنګ دشا ملینو په غوږ و نو کې انګازی کوی - دغه وجه ده چه دمومندودهر کلی هدیره جنډې - جنډې ده اوله هره قبره «اومړی تارونه» چاپېر دی - دغسی قبرونه ټول دهغو مجاهد ینویاد تارونه اود هډو کو خزانې دی چه د وطن د ناموس، عزت او شرف ساتلو په مدافعه کې لومړی غازیان او بیا شهیدان شوی دی — که دنورو قومونود سر شمارۍ په تناسب قسمت وشی نویقینا ددغسې واقعا تو شهیدان هم په کوډاخېلو کې ډېر دی - ګویا کوډ اخېل دشهادت اونیک بخته مرګ بخت او طالع لری خو ګوره چه دهو ساژوند او آرامې زندګۍ خوش قسمتی به ئې څومره وی.

زمونږ دمقالې موضوع هم دغسې یوسړی دی چه په قام کوډاخېل مومند، په مذهب کې یوپاك اوسپېڅلی مسلمان په اخلاقو کې یوحلیم، برد بار اوسخی، په صفت کې دقام مشر اولوی ملک په رنګ اوبڼه کې ثقه او مقبول په غوښه نسبتاً ډك په قدا وا ندام متوسط الحال او په ۱۹۳۳ کال کې دانګریز داستعمار آلودې او جابرې ګولۍ دلاسه دمومند خواپه سمیه کې شهید او وژل شوی دی -

شهید ملک محمدعمر لکه چه وموویل په قام کې یو آبرومند او مخورسپین زیری ؤ او پاک خدای دده په فطرت کې دقام دمشرۍ اوسپین زیر توب ځای ایښی ؤ دقام اوولس دمشر تابه دپاره چه د کو موصفتونو ضرورت دی هغه ټول په دې سړی کې جمع شوی ؤ، ملک عمرچه دچاپه خوله په هرمجلس کې یاد شی نود خلکو دخولې نه بې اختیاره اوپه ډېر تاثر وو ځی چه «خدایه وئې بښې!» ددې دو مره عام محبویت په دې مرحوم شهید کې څوو جهې وې دټولو نه لو مړی لویه خبره په دې سړی کې داوه چه دی د کشرانو بار وړونکی ؤ، دی په طبعه او چورت کې ډېر ازاد ؤ، هیڅ نو کر اومز دور دده نه نه دی خفه شوی اوتر اوسه پورې داخبره مادچانه اورېدلی نه ده چه ګوندې یووړو کی هلک به دې حلیم اوبردبار شخصیت ته هرڅو مره چه په قهرشوی وی نوده دې ورته وچولی قدرې تریو کړی وی - په دېره کې به چه نابلده سړی را پېښ شونوهغه به دنو ګرانو په منځکې

دملک عمر فرق نه شو کولی اودی ئی یکې نه شو پېژ ندلی ـ په سفر او حضر کې دی دملگرو تابع ؤ او هیچېر ته هم ده خپله خوښه او رضا په نورو نه ده تحمیل کړې ' دېره ئی همیشه د هرمسافر دپاره بېرته او تیاره وه ' د ده په مجلس کې قید او بست او یادخه خاصو نزا کتونو مراعات نه ؤ او دغه وجه وه چه هر غریب او فقیر به داغوښتل چه دملک عمر سره ملگری وای ـ همیشه به د د ه خوله دخنداد که وه اووچولی به ئی روښانه اورون ؤ' په خبرو او جر گه کې ئې کوم آمر انه اوجابرانه رنگ نه و' پروت خویره دحاضر جوابی دېرمېړنی سړی تېرشوی دی او په بحث مباحثه کې تری چابری نه دی وړی -

ملك عمر د کامې د گوشتې په علاقه کې زمکه او ځای لاره اود کال وسر د ېر ی شپې ورځې به ئې د گوشتې دسیمې په سربند نومې ځا ی کې تېروئې -

ملک عمر دپښتنو دمر کزی حکومت یعنې افغانستان سره د ېر خوازه اوپه زړه پورې تعلقات لرل او دافغانستان حکومت هم ده ته په درنه ستر گه کتل -

دملك عمر دشهادت کیسه داسی دېرنوی شی ځکه نه دی چه بشهادت ددې کورنی میراث غوندی یوشی دی

دده دوه ورونه نور هم چه یوئی مرحوم خا نجا ن نو مید ه په ۱۳۳۳ ه کال کی د انگریزانو دلاسه د «اقرب دا گ» په غزا کی شهیدشو اوبل ورور ئی جناب مرحوم حاجی میا جا نخان چه په ۱۹۳۳ ع کال کی د گند اوپه مشهوره غزا کی تپی او بیا په ۱۳۱۷ ه کا ل کی دیو سخت دل دلاسه شهید کړی شو دغه شان دده یو تره مرحوم محمد روز خان دپښتنو داستقلال په جنگ کی شهید شوی اوددی کورنی اکثر زلمی همدغسی شهیدان شوی چه په دی حساب بایددا کو رنی دشهادت خاندان وبلل شی .

اخر سر ئی په ملك عمر تما م شو ملك عمر دمومندو دتېرو جنگونو دفتحی آودد کې په غزا کی (دافغانستان د استقلال جهاد) دزخمی کېدونه وروسته په ۱۹۳۳ ع کال کې د گند اوپه غزا کې دد ېرو زور ورجنگرنونه وروسته دیو انگلیس افسر دتوپك نه شهیدشو اوله دغی ورځې نه د مومند وجر گې مر کی بې ملك عمره شوې .

ملك عمر ز مونږ دمعاصر اومجاهد لیکونکی سیال مومند تره اودمحمدعوض خان پلارؤ پخپله محمد عوض خان دپلار یورشید خلیفه اودهغه غوندې اخلاق ئی لرل ' یوښایسته زلمی اخلاقی اوسخی ځوان ؤ ولې دمر گ دلاسه پرې انده شوه اوپه تېرو کلو نو کې دپنیغ له درده مړشو ' مړی دې خدای وبښی اواوس دی خدای «محمدقدوس» ته خیر کړی .

(له الاهرام څخه) دښاغلی «سیفی» ترجمه

نوې ترکیه

له هغو اطلاعاتو څخه چه ما اوریدلی دی او دهغو مشاهداتو څخه چه ما په خپلو ستر ګو لیدلی دی دا حقیقت په ډېر ښه ډول څرګند ېږی چه په دغه ملت کښې ملی روح په پوره معنی ژوندی شوی دی نو له دې کبله زه غواړم چه د ګرانو لوستونکو د معلوماتو دپاره د نمونې په ډول ځینې خبرې په دې لاندې کرښو کښې ولیکم:

۱ — هغه پخوانی عسکریان او نور خلك چه دخپل پیاوړی پوه مشر مصطفی کمال دقیادت لاندې ئی دخپل هیواد د آزادۍ دپاره جنګونه کړ وو او د ترکیی ننني عسکر ټول سره په خپلو منځو کښې قوی ارتباط لری او دوی ټول په شریکه دخپل هیواد د آزادی دورځی په افتخار کال په کال دجولائی په (۲۰) نېټه تلین کوی او د دی تلین داستقبال او پذیرایۍ د پاره ډېر جګ ترتیبات نیسی او ددغی ورځی په سهار ددې خاورې ټول عسکریان په ټاکلی وخت دخپل ګران قاید مصطفی کمال دمجسمی د احترام په ځای کولو دپاره په (میدان الحریة) نومی میدان کښې ټولېږی چه په دغه میدان کښې یوه عسکری تشریفاتی دسته د موزیك په ذریعه د دوی استقبال او احترام کوی، وروسته، له دی چه دوی دصفونو په شکل منظم شی نو دوی دعسکری موسیقی له ټولګی سره په منظم ډول دعسکری موزیك سره روان شی په دغه وخت کوم شی چه دانسان په احساساتو ډېر عمیق تاثیر کوی دهغو میرمنو منظره ده چه دوی په دغو خلکو کښې دخپلو شهیدانو میړونو د شهادت اوضاع تمثیلوی، په دغه تلین او جشن کښې دغه منظره یوه داراز ننداره ده چه ددې منظری په لېدلو دحاضرینو دستر ګونه وینې بهېږی او ټول په واز کومی ژاړی ددغې نااشنا منظرې په لېدلو زما په زړه کښې داارمان پیداشو چه آیا په نړۍ کښې به بل دترکی قام په څیر بل داراز قام وی چه هغه به دخپل هیواد ثقافت او تاریخ او استقلال سره مینه لری؟ او په نړۍ کښې به بل داسی قام وی چه دهغه قام عسکر به دیو بل سره دغه ډول مینه او دور ورولۍ رابطه لری؟

۲ — زه په کتاب خانو ددې دپاره ګرځيدم چه زه ددې نوی او ځوان مملکت د کتابخانو دځان سره نوې خوږې میوې یوسم ' په دې لړ کښې مادوه قاموسونه ولېدل چه یو په عربی او لاتینی په څلورو جلدونو کښې په (۱۸۲۰ ع) کښې چاپ شوی ؤ او مؤلف ئی (جارج ولهلمی فریناج) ؤ دغه کتاب یو مختصر هم درلود چه دغه مختصر په (۱۸۳۷) ع کال کښې چاپ شوی ؤ چه زما په فکر دغه دواړه ډوله یعنی مختصر او مطول قاموس په خپله موضوع کښې ساری او نظیر نه لری او که په کومه کتاب خانه کښې دغه قاموس نه وی نو هغه دې ارو مرو ددغه قاموس یوه نسخه چه ډېره ښکلی چاپ شوی ده راو غواړی په دې لړ کښې ما په یوه بله کتاب خانه کښې چه د(بیرا) او یاد (استقلال) نومی واټ په غاړه ودانه شوې وه په عربی او فرانسوی ژبه کښې یو بل قاموس ولید چه مؤلف ئې دمصر (الیاس بصطر) ؤ چه دغه قاموس په دغه مملکت کښې ډېر جامع او مفید قاموس ګڼلی شی او زما په فکر هم دغه ډېر ښه او جامع قاموس دی او کوم خلك چه دعلومو او فنونو دپاره خدمت کوی دهغو ډیر ښه ملګری دی.

دې مؤلف دخپل کتاب په مقدمه کښې لیکلی دی چه زه په مصر کښې دفرانسوی عسکرو ترجمان وم او په کوم وخت کښې چه دغه فرانسوی عسکر دمصر نه فرانسې ته ولاړ نو زه هم ور سره دترجمان په حیث ولاړم او د فرانسی په حربیه وزارت کښې به می دعربی او فرانسوی ژبی دترجمانۍ کار هم کاوه او په دې ضمن کښې به می دژوندو ژبو په مدرسه کښې دعربی ژبی درس هم ور کاوه له دی نه وروسته زه دفرانسوی او عربی ژبی دیو قاموس په تالیف او تدوین مکلف کړی شوم ما دغه قاموس جوړ او تکمیل کړ او دفرانسی حکومت دغه قاموس په (۱۸۰۶) کال کښې چاپ کړ څه موده وروسته دفرانسی حکومت دغه قاموس په دوو جلدو کښې پدې ترتیب چاپ کړ چه لمړی جلد ئی په ٤٦١ مخه کښې په (۱۸۲۸) کال کښې او دوهم جلد ئی په (٤٣٥) مخو کښې په (۱۸۲۹) کال کښې چاپ شو' او په دې دوهم ځل چاپ کښې می دځینو مستشرقینو په مشوره پدې کتاب کښې ډېر اصلاحات هم وکړل.

۳ — ډېر نا آشناشی می داولید چه دترکیی په ټوله خاوره کښې به دارازیو ځلمی و نه ګوری

چه هغه په خپله عسکری دوره نه وی تیره کړی اوزه په دی خبره قسم خورم چه بې له کومی استثنی ماهیڅوک ندی لیدلی چه هغه به ددغه مقدس ملی خدمت سره خپله پوره علاقه اومینه نه وی ښکاره کړی او کوم ځلمی چه په تعلیم بوخت وی او دهغه د عسکری جلب موده راشی نو په دغه صورت کښی د هغه جلب د تعلیم دتکمیل پورې معطلیږی لیکن د تعلیم دتکمیل سره سم هغوی بلااستثنا په ډیره مینه دخپل جلب اوپه عسکری کښی دشمول انتظار باسی دغه ډول ځلمی په عسکر کښی دشاملیدلو سره سم په حربی مدرسه کښی شاملیږی چه په نتیجه کښی احتیاطی ضابط کیږی او دایوه ډیره ښه طریقه ده ځکه چه د دی طریقی په وسیله دتعلیم یافته او غیر تعلیم یافته ځلمی په منځ کښی ډیر فرق او امتیاز راځی ددی کار په وسیله دحرب وزارت ته ډیرپوه احتیاطی ضابطان په لاس ورځی او دپوهو تعلیم یافته و ځلمو دپوره ذخیرې خاوند کیږی په ترکیه کښی په مختلفو طریقو عسکری خدمت عمومیت لری اوددی شی دعمومیت په اثر عسکری خدمت په خلکو کښی دعقیدې ځای نیولی دی، همداسبب دی چه که هرشخص په ټولنه اوجامعه کښی چه هر څه ځای اومقام اوشخصیت ولری لیکن دې مقدسی وظیفی سره ډیره مینه اوعلاقه لری اودوی دخپل عسکری ډیر والی اود خپلو عسکری منبصدا را نو ډیر والی اوقوی توب خپله ملی پانګه اوافتخار ګڼی اوهم داسبب دی چه انسان په دغه خاوره کښی ګرځی نو په هره لاره او کوڅه کښی ډیرخلك وینی چه عسکری دریشی ئی اغوستی اوپه دغه جامه افتخار کوی.

دترکیی دتعلیم په شاوخوا کښی ځینی خصوصی معلومات:

دترکیی په جمهوری حکومت کښی تعلیم په ډیرقوی ملی روح اواساس روان دی اوپه دغه مملکت کښی تعلیم په مختلفو څانګو کښی پوره ترقی کړی ده اوددی ملک دتعلیم دترقی روح دادی چه په دغه مملکت کښی تعلیم په خپله ملی ژبه کیږی اوپه ټولو مدرسو کښی تعلیمی پروګرام په قومی روح اواساس بنا اوپه ملی ژبه جریان لری اوپه ټولو مکتبو کښی دخپل هیواد ترکی معلمان په خپله ملی ژبه تعلیم کوی اودثانوی مکتبو دشاګردانو دپاره داخبره ضروری ده چه دخارجی ژبو څخه یوه ژبه لکه فرانسوی اوانګریزی اویاجرمنی اویا کومه بله ژبه زده کړی او وروسته له دې چه دوه کاله په یوروز نتون کښی تیر کړی نو دوی په دغه ژبه

کښې دې دپاره وروستنی امتحان ور کوی چه ددغی ژبی په کوم یوپوهنتون کښی داخل شی اوپه دغه ژبه کښی خپل تحصیل ته ادامه ور کړی.

لیکن سره ددی هم حکومت په دغه طریقه قناعت ندی کړی اوددی مرام دترسره کولو دپاره ئی په استانبول کښی (غلطته سرای) نومی دارالعلوم جوړ کړی دی چه دوطن په مختلفو برخو کښې ډېرې ځانګې لری اوتقریباً دوه زره شاګردان پکښې شامل اوپه فرانسوی ژبه زده کړی کوی په دغه دارالعلوم کښی پرته له فرانسوی ژبی څخه شاګردان تاریخ، جغرافیا اودخپلې ملی ژبې ترکی ادبیات هم لولی، همدغه ر زدترکیې حکومت دغه ډول بودآرالعلوم په انقره کښی هم تاسیس کړی دی چه په دغه دارالعلوم کښی په انګریزی ژبه کښی تعلیم ورکولی کیږی اوله دی دارالعلوم څخه مطلب دادی چه په دی ځای کښې سیاسی مامورین وروزل شی اوله هغو څخه په سفارتونو اوخارجی ممالکو کښی په خبر واترو اونورو چارو کښې کارواخیستلی شی اوهغوئی دخارجی ممالکو په مختلفو ژبو کښی علمی اوادبی اوتاریخی تتبعات وکړی اوپه دغه ذریعه دخپلې ژبې اوقام دپاره خدمت وکړی.

ابتدائی مدرسی چه په هغو کښی کوچنیان تردولسم کاله پوری په خپله ملی ژبه ترکی درس وائی ډېرې زیاتی اوپه هر ځای کښی دی او کوم خلک چه په خپلو اولادونو دخارجی ژبو زده کولغواړی نوهغوی خپل اولادونه په ثانوی اویانورو اوبومکتبو اویاله دغو دوو پورته دارالعلومو نوڅخه په یو دارالعلوم کښې شاملوی چه یو په استانبول کښې او بل په قاهره کښې دی، پرته له دغو دارالعلومو څخه په استانبول کښی یود امریکایانو (اوبیر) نومی پوهنتون اوبل د فرانسویانو (سان جوزیف) نومی پوهنتون دی چه د ترکیې ځلمی پکښی خارجی ژبی زده کوی.

په پورته مضمون کښې موداحقیقت ښکاره کړ چه په نوی ترکیه کښی عالی تعلیم په خپله ترکی ژبه دی که څه هم په دی ځای کښی ځینی خلک دانقصان حس کوی چه پدی صورت کښی خارجی پیاوړی پوهان نه وی، نو له دی کبله ممکنه ده چه دغه طالبان دځینی علمی خارجی لغاتو او محاورو اواصطلاحاتو څخه محروم پاته کیږی لیکن دا نقیصه ترکی معلمانو په ذې ډول پوره اولری کړی ده چه هغوی په مناسبو ځایو کښې خپلو شاګردانو ته دغه اصطلاحات اولغتونه په خپله ژبه کې ورته ترجمه کوی اوپه دی ډول دوی دغه نقیصه له منځ نه وباسی اوددې خبرې کوښښ کوی چه خپلو اولادونو ته په خپله ژبه تعلیم ورکړی اوپه دې وسیله دهیواد په ځلمو کښې ملی روح تقویه کړی.



د مرحوم مستغنی یوه بوالله (قصیده)

بی له علمه به څه غواړی په دنیا څوك
تردی ښه متاع پر دی دکان کښې نشته

که عاقل وی که هشیار وی که دانا څوك
سود به وکا که کوی دغه سودا څوك

درست جهان قربان دعلم تر گوهر شه
علم سل خروار ه ثقل په هوا که

دغه وایم که می وپوښتی رښتیا څوك
درواسی شی یو ښه په هوا څوك

مجهولات به دعالم ورته معلوم شی
ترقیامته خرابی پری اثر نکا!!

که دعلم له مضمون نه شی جوړ یا څوك
که د علم په اساس کښېږدی بنا څوك

په دنیاوی هغه قصر بی قصوره
که د علم معرفت دې حاصل نکه

چه دعلم په قرار ئی کړی بر پا څوك
څه به غواړی معرفت له ما و تا څوك

چه دعلم دطبیب دا رو ونخوری
د هغه ملت به څه رنگه ښادی وی

له مرض د جهله نه مو مسی شفا څوك
چه پهده کی به عالم نوی اصلا څوك

چه دعلم ودعرفان ترقی نوی
علم هر ځای اهلیت دعالم غواړی

په وطن کښې به عاقل نوی گویا څوك
بی شاهده به کوی دغه دعوا څوك

ولیلی ته دمجنون په ستر گو گوره
چه مجنون نوی نور څه کوی لیلا څوك

چه دعلم رهنما په جهان نوی
نور به څوك وی دگمراهو رهنما څوك

وزك به نشی له مشرقه تر مغربه
که دعلم رهنما کاندی پیدا څوك

که بلاده په جهان کښې بی علمی ده
خدای دی نکا مبتلا په دا بلا څوك

تر بلا د جهل پورته بلا نشته
پر دا هسی بلامشه مبتلا څوك

په جهان کښې به غالب پهدر دشمن شی
که د علم توره وتړی تر ملا څوك

ته له علمه دا صفا سان بافی زده کړه
د بی علمه جولاهه کوی خمتا څوك

دغنچی پشان بی علمه دلگیر ناست وی
څکه نه کوی دگل پشان خندا څوك

هر گفتار به دی دزړه په غوږ واوری
که له علم وله حکمته شی شنوا څوك

چه دعقل بینائی ورپکی نوی
څکوی لکه نرگس ستر گی شهلا څوك

چه د فهم رسائی په چا کښې نوی
چه د فکر باریکی نلری وروره !!!!

په حکمت سره د خپل ملت غم خور شه
که دخپل ملت په خپله غم خور نشې

هر جاهل دده په نور سره عالم شی
هرگز نلری زوال دولت د علم !!
محکم تره تر حصار د علم نشته
هېڅوک کډ په خارستان دجهل مشه

په هر ځای کی فرق دخپل وپردی گوره
هغه ښه دی چه دخپل ملت ښه وائی

بې علمی بې کمالی ملت رسوا کا
هر ملت چه وی بې علمه نابینا وی

خدای دې نکا هیچ ملت هسې بې ذوقه
که دجهل علاج غواړې په جهان کی

دو نه علم و معرفت هر گوره ښه دی
که هر څو وی ښایسته ښایسته ندی
مسلمان به په دنیا غم دعقبا خوری

پیش بینی دانسان ښه ده په هر کار کی
له پښتو به پښتون څه چشم پوشی کا
نن ورځ بخت د پښتنو دی پورته شوی
درست کشور ئی په دوه کاله چراغان که
وهر چا ته ئی عام فیض رسیدلی
پردې جوډ پردې تدبیر و پردې عقل
له شاهانو د وطن چا اوریدلی
که دی نوی په غوغا د انقلاب کښی
ټول ملت ئې په سر توری دعا گوی دی
مستغنی که په پاړسی که په پښتو دی
چا پدا رنگه مضمون دی اوریدلی !!
زه د خپل قوم و ملت ثنا خوانی کړم
مرور نه یم له چا نه چه پخلا شم !!
د هرچا قدر و مقدار خپل شخصیت دی
چه د علم اهلیت په چا کښې نوی !
زه گله د بی علمی له چا نه وکړم
چه د علم ممیز او محک نوی
چه د ټول قوم و ملت دانائی نوی
چه ثمر د علم و فضل د شاخ نوی
حق گوی هیڅ کله پروا د هیچا نکا
څوک و تلی له عهدی د دی بیان شی

نور به څه کاندی رسا قد وبالا څوک
څه پکارده که لری باریکه ملا څوک

باري نلری دبل ملت پروا څوک
هرگز نکا په پردی مړی ژړا څوک

بې له علمه کوم سړی بولی ملا څوک
دا دولت له چا نه نشی وړی پغلا څوک
که چار پیره کا تر ځان دغه قلا څوک
څوک وتلی دی ژوندی له دې قلا څوک

گوره گوره بیگانه څوک دی اشنا څوک
خدای دې نکاندی په بدویل گویا څوک

خدای دنکا په دا بد نام رسوا څوک
باري مشه به جهان کی نابینا څوک

چه به فرق نکاد زهر و د حلوا څوک
بی له علمه به ئی نه مومې دوا څوک

چه واقف وی په روا په ناروا څوک
چه په نور دمعرفت نوی زیبا څوک
هشیاری ده که نن غم خوری دصبا څوک

ډاښه نه ده چه د نن کار کړی فردا څوک
دا به نکا که لری شرم حیا څوک
څوک لری زمونږ پشان نادر پادشا څوک
څوک به بولی امر سپوږمی په دارنا څوک
نن ورځ څوک لری دده پشان سخا څوک
کوم پادشاه وڅوک وڅوک تر ده پخوا څوک
څوک لری ، پدا صفت صدق وصفا څوک
کینو لی شی دغه رنگه غوغا څوک
د عادل پادشاه به نکوی دعا څوک
په گفتار کښې دې زه نه وینم همتا څوک
څوک کولی شی نن ورځ دغه وینا څوک
پدا ښه وائی که بد وائی لما څوک
خبر نیم مرور څوک دی پخلا څوک
نور به څه وایم چه شاه څوک دی گدا څوک
نور د جهل گله وکوی له چا څوک
چا ته بد ویلی نشی برالا څوک
څه به پوه شی په صواب او په خطا څوک
که دا ناشی څه به وکاندی تنها څوک
څه لذت مومی له نخل د خرما څوک
تفریق نکوی چه دا څوک او دا څوک
بس دی زه څوک د ملت مدح وثنا څوک

ښاغلی دردمند

پریشانه افکار

توري خونی وران کورونه داخیري گریوان زمو نږ
شړي ځمکی وچ ډاگونه ژاړی ما شو سان زمونږ
چاؤ دي پښې لوڅ سرونه گرځی بې پروا له ژوند
وږی تږی ستړی ستومان گرځی ټول ځلمیان زمونږ
اورو اذانونه خو مو نځونه را نه پاتې دی
خدایه را ته خیر کړي مرور نشی ایمان زمو نږ
مرگ د ورور عزیز ته کورنی گرمی جگړی لرو
دغسی گوندی کښې مهارت لری ځوانان زمو نږ
پاتې نیك عمل دی ځان ته څنگه مسلمان وایو
مړی کفن نلری ژوندی دی پریشان زمونږ
یوه دعوه لا نه وی فیصله بلې ته ملا تړی
بېښ په سویه او په فکرو کښې دی نقصان زمو نږ

محترمه پېغله «مستوره» داسمار له شال څخه

... پیدا کړه!!

ځان کړه خلاص له هره دره دغنا گوهر پیدا کړه
په اثر چه ستا د سوری بادشاهی ورسی بل ته
چه په آه دي شگفته شی د غوټو نیولی زړونه
په خزان د تملق دي دوجدان گل مړاوی نه کړی
په خندا لکه گل اوسه غوټه خلاصه له جبین کړه
چه تابع په یو نگاه کړی ټول عالم لطیفه اوسه
بې ریا لکه آینه شه صاف څرگند مخ دهرچا کړه
نه ده ورځ ټول عمر شپه ده چه د جهل تاریکی شته
د سبا په وخت گلشن کښې د بلبلو د نغمو نه

متانت غوره کړه ځانته قناعت ځیگر پیدا کړه
باهمت اوسه زړ گیه! دهمای وزر پیدا کړه
پریشان لکه نسیم شه په گلشن گذر پیدا کړه
هسکه غاړه ډیر آزاده لکه سرو سر پیدا کړه
بدبینی مزمن مرض دی خوش بینی ثمر پیدا کړه
جلبیت او جذبیت کښې مقناطیس اثر پیدا کړه
فیصله کوه په حقه ځان ثانی عمر پیدا کړه
په آفتاب دعلم وفن ته ښه رنگین سحر پیدا کړه
داوینا په غوږو اورم «مستوری» هنر پیدا کړه

ښاغلی محمدعلی لونګین

د سینې پیوند

زه هغه وخت ستا د مینې په اورسوی اولړلی یم چه پیدا او فنا چا نه پیژانده او د امید او حسرت تیږه لا نه وه ایښودل شوی. زه د هغه وخت نه مین یم چه بلبل او بورا چمن نه ؤ لیدلی او پتنګا نو د قربانۍ د شاګردی لارلا هم نه وه میندلی او شمعی په محفل کښی خوله نه وه پرانیستی زه د هغی ورځی مشتاق یم چه ستور ولایت ستر ګکونه نه وو وهلی او سپوږمۍ خرامان تګ نه وو یاد، زه د هغی ورځی ستاد حسن د خیر ملنګ یم چه قلندرانو می شاګردی وکړه او د مینی رنګ ئی زمانه واخیست نو که ما چېری یاد کړی شاهان تل ملنګان پالی او بینوائی نه شړی واخله چه د خپلی مینی یوه نمونه درته وښیم.

نه فضا وه نه هوا وه — نه وه ځمکه نه آسمان ؤ
نه د نیا نه ما فیها وه — نه مسکون ؤ نه د وران ؤ
نه ژړا نه واویلا وه — نه د مینی بی جان ؤ
نه بلبل نه ګل لیلا وه — نه چمن سمسور ګلان ؤ
نه د ستا د ناز خندا وه — نه زما مجنون ارمان ؤ
نه وفا وه نه جفا وه — نه د سرو او ښو باران ؤ
نه د حسن تماشا وه — نه له ستر ګو جوړ طوفان ؤ

ما سره د ستا د مینی زړه کښی پټه هنګامه وه
په افسون ستا د کتلو جوړه مسته ډرامه وه

نه ګلزار ؤ نه مالیار ؤ — نه په زړو کښی تراري وي
نه بورا او نه بهار ؤ — نه آسمان کښی نغاري وي
نه سمسور د عشق ګلزار ؤ — نه زما سوي ګلي وي
نه هوساوو نه قرار ؤ — نه د میو ښیښي سري وي
نه د لبر ؤ نه د لدار ؤ — نه د نازه کرشمي وي
نه د هجر د ند وکار ؤ — نه د وصل اند یښني وي
نه ازار ؤ نه بېزار ؤ — نه د مینی افسانې وي

ما سره ستا د مینی زړه کی پټه هنګامه وه
په افسون ستا د کتلو جوړه مسته ډرامه وه

نه سپو ږمی نازوا دا کړه — نه کړه ستو رو ستر گکو نه
نه مو جو نو و اویلا کړه — نه د لبر کړه مکیز و نه
نه به ما همیش ژړا کړه — نه و و ستا نو از شو نه
نه به تا جور و جفا کړه — نه به ما کړه فریاد و نه
نه به هجر اعتلا کړه — نه به اوښو کړه مو جو نه
نه ساقی مطرب صدا کړه — نه به ما کړه افسو سو نه
نه به سپین سها رخندا کړه — نه مرغا نو آوازو نه

ما سره ستا د مینې زړه کښې پټه هنگامه وه
په افسون ستا د کتلو جوړ ډمه ډزا وه

نه د گلو باغ سمسور ؤ — نه آرزو جوړ کړی ټال ؤ
نه نغمه چنگ ؤ ټکور ؤ — نه د تور و زلفو جال ؤ
نه پتنگ ؤ نه سو راور ؤ — نه څراغ ستا د جمال ؤ
نه مې زړه کښې دچا کور ؤ — نه ژ و ندون راته مجال ؤ
نه سکوت و ونه مې شور ؤ — نه هندو د زنې خال ؤ
نه د رنگه د اسې تور ؤ — (لو نگین) نه په دا حال ؤ

ما سره ستا د مینې زړه کښې پټه هنگامه وه
په افسون ستا د کتلو جوړه مسته ډرامه وه

ذوقافیتین :

ښاغلی عبدالله بختانی

زما د زړه آواز

بلبل د سبا ؤ ن غو ندې قو مونه ویښوم
نسیم په څېر چمن کښې زه عطرونه خوروم

نغمې مې د زخمی زړ گی تاثیرلری په زړونو کښې
هم د ر د یم هم د وایم زه ز خـمو نه رغـو م

نغمې دی ' تر انی دی '' دا د مینې افسا نې دی
د مینې په محفل کښې سر و دو نه غږ و م

د گلو نه قو دې زه جوړ وم د غه مې کار د ی
د ذ وق خاو ند ما لیار یمه گـلو نه تو لو م

چه گل وی او بلبل و ی او ا شنا سره مل و ی
د غـه د م غنیمت د ی بیـا غمو نه کـمو م

یو دم وی ' خو غم کم وی ' رانژدې د آشنا غم وی
د د ې نعـمت پسې ز ه جهـا نو نه لـټـو م

صیاد مې نه د ی خو ښ چه په بلبلو کړ ی ، ظلمو نه
که لا س مې یو ځل بر شو نو دامو نه شو کوم

چه و گور ی زخمی ز ړه او زخمی شی هغه دم کښې
د زړ و نو خـاوندانو ! داسی زړ و نه خوښوم

آ شنـا که بی پر و ا شی ز ما مینه نه کمېږ ی
گـلشن د محبت کښې خپل عمرو نه تېر وم

د زړه د حرا ر ت ځنې می جو ړه هنگا مه شو ه
د مینې په گر مۍ کښې جها نو نه تو دوم

یا ژا ړمه له در ده او یـا خاندم په بی د ر د و
ژ ړ ا خند ا مې دا ده چه شعرو نه جوړ وم

« زما د زړه آواز دی که د مینی سوز و ساز دی ؟
د ز ړ ه نـه ئی ر ا بـا سم د مـا غو نه ر و نو م


حادث شلغلري

ادبي ټوټه
د کلام ټیګور څخه

دښاغلی « سیفی » ترجمه

زما دستر ګو توره!

زما د ستر ګو توره اولی ژاړی؟ تاته چاڅه ویلی دی؟ هر کله چه ته خپل قلم مشوانۍ وا خلی او خط لیکلو ته کښېنې او پخپله تختې مشق شروع کړی او په سیاهۍ دې ګوتې او لاسونه تور او ککړ شی.

نو خلك تاته خیرن خیچن او پو واړ وائی؛ او په بده ستر ګه درته ګوری؟ افسوس! او ډېر افسوس! دوی سره خودا خبره هیڅ مناسب نده چه تاته بدووایی او یا د ر پسې داسې خبرې وکړی!

آیا دا به چا اورېدلی وی چه سره ددې چه دڅلورلسمې سپوږمۍ تور داغونه لری، لیکن چاورته پوواړ او غلیظه ویلی ده: زما دستر ګو توره! تاته خلك پوواړ او غلیظ وائی؛ داځکه چه دوی تاسره مینه نه لری!

او چه ته په لوبو او ټوپونو کښې خپل کالی څیرې او په خاورو او خټو کښې خیرن خیچن کړی او کورته راشی، نو خلك په تاپسې خبرې کوی او وائی چه ته وران کاری او شریریې!

افسوس او ډېر افسوس! دا خبره خود دوی سره مناسب نده چه دوی تاته وران کار او شریروو ایی!

او دا ځکه چه په کوم وخت کښې چه دسهار رونما دوریځو د ټوکرو څخه راوځی او په ځمکه را خپرېږی.

نو هغې ته چا تر اوسه وران کارې او شریره نده ویلی!

(پاته په ۲۲ مخ کښې)

ښاغلی پرهېز

اوږدژوند

څر نګه چه دی ټولو مړو ته چه په ادیرو کښی دډیر وخاو رو لاندی دچپتیا اوخموشی په پټه خوله پراته دی مړه نشو ویلای نوهماغه شان دې ټولو ژوند وته چه دشینکی آسمان لاندی پدی پراخه مځکه باندی ښکته پورته ګرځی یاخبری اتری کوی یا داچه خوراک او چښاک کوی ژوندی نشوویلای ، ځکه پدوی کښی ډېر کسان پیدا کېږی چه په معنی کښی مړه دي مګر په ظاهره کښی دژوند وروزی خوری په ادیرو کښی هم بی خوراکه ډېرژوندی کسان پیدا کېږی .

ژوند اومرګ ځانته اقسام لری : ډېر خلک دی چه په ظاهره ژوندی برېښی اوپه غیر شعوری طور سره په ځینو کارونو پسې دیخوا هاخوا منډی را منډی هم وهی مګر معناً مړه وی که څه هم ډوډۍ خوری خبری اتری کوی مګر بیاهم دوی ته معناً ژوندی نشو ویلی . داټول خلک چه په لارو یا بازارونو کښی ستاسو مخې ته در ځی یائې په ځینو ځایو کښی ناست وینی چه په چپړاسیانو اوپه خپلو کلینرانو باندی حکمونه کوی په دوی کښی به ډېر وی چه معناً ور ته ژوندی نشوو ېلی ، په دوی کښی به ډېر وی چه ادیروله مړونه به هم بتروی .

(د ۲۱ مخ پاتې)

دا خلك چه تاته هرڅه وائی ، ته ددوی دوینا پروا مه کوه !

ورځ په ورځ ستا بدنامی زیاتېږی !

ته د خوږو شیانو سره ډېره مېنه لری !

له دې کبله د کور اودباندې ټول خلك تادخوږو شیانو په عاشق یادوی !

افسوس اوډېر افسوس ! داخبره خودوی سره هېڅ مناسب نده چه دوی تادخوږو دعاشق په نامه یادوی !

او که ددوی دا خبره رښتیاوی چه ته په خوږوعاشق یی !

نودوی به هغه چاته څه وائی چه هغه په تا عاشقان وی ؟

هو! دمړواو ددوی په منځ کښی به یوازی دومره توپیروی چه مړی‌خبری نشی کولی او دوی‌به لکه توتی یامینا خبرې کوی همدا رنګه داد یرود مړو په منځ کې هم داسې مړی پرا ته دی چه معناً ژوندی دی خوسره ددې چه زر کاله پخوا مړه شوی دی مګر ترڅو چه دحضرت ادم (ع) اولاده په دنیا شته د هغوی نومونه به ژوندی پاتې‌وی اوپه هر ځای کی به‌ئی نومونه په در نښت یاد یږی .

د پښتنود ود دی چه وائی «عمردې‌ډیر شه» دأیوه ډېره‌فلسفی اومعنی داره اصطلاح ده !

عمر خو معلوم دی چه نه ډېر یږی او نه کمیږی ، څومره چه په ازل کی د چا عمر وی هماغه وی اوبس ، چه‌په هغه کی هیڅ تغیر وتبدیل نه را ځی ، په هیڅ صورت سره و راندی وروسته کیږ ی نه ؟!

نوزما په عقیده دا د عمر ډیرښت داسی دی چه‌پاك خدای په‌ژوند ونی سړی‌ته توفیق ور کړی چه‌خپل ځانته‌دمعنوی ژوندون وسائل برابر کړی ، دتولنی یو کټور غړی‌شی ، خیر الناس من‌ینفع الناس شی .

خپل قوم اودپاك خدای نور وبنده ګانو ته‌ئی ښېګڼه ورسیږی دځان اودخپلی اولادی دهوسائی دپاره دخلکو ژوند تریخ نه کړی ، تول‌ښه کارونه دپاك خدای په رضا ئیت او دخپل‌ضمیر دخوشحالی دپاره و کوی ، پرته‌له خدای پاك څخه‌ئی بل هیچا نه‌دخپلو ښېګڼو داجر ستر ګی نه‌وی پټی کړی ، خپل ژوندئی دخدای په رضا و قف کړی وی ، نوددا سی خلکو عمر معلوم داره اوزدوی ، که‌څه هم دوی په ظاهره له‌دنیا ستر ګی پټی کړی‌وی مګر په‌معنی کی دوی ژوندی وی ، ترقیامته پورې ئې خلك په ډېر احترام یادوی اوهر ګوره بشری‌نړۍ ئی‌په نامه ویاړی هم ؟

برعکس که یوسړی‌زر کاله ژوندی وی ، پرته‌له‌تاوانه‌ئی هیچاته ګټه نه‌وی رسېدلې کلی کور ترې‌نآرام‌اونا قرار وی ،په‌خپل ماحول اومحیط کی اجتماعی معایب اواخلاقی مفاسد اومیکر وبونه ترزیږوی ، نوپه‌دې حساب مونږ دې تولو ژوندو ته‌ژوندی‌او هغوتولو مړو ته مړه‌نشوویلی ، ژوندی فقط هغه چاته وایوچه ژوندی افکارئی په مغزو کی وی او محض دخدای دپاره‌دقوم‌اووطن‌دښېګڼی‌دپاره‌ئی‌خپل ژوندوقف کړی‌وی‌اوبس، په‌احترام

لیکونکی:- رمیش یارتی
مترجم:- ع فهیم

د فطرت رمزونه

زمونږ بانه څه کار کوی؟

ددې پوښتنې ځواب ډېر آسان دی، مګر ډېر په عمر پاخه خلک شته چه ترې ناخبره دی، دبڼو دموجودیت وجهې دوه دی یو ئې استعمال اوبل ئې ښایست: که بانه نه وای نو دتو دوخې له آمله کومې خولې چه په تندی پیدا کېږی هغه به په سترګو کښې ننو تلې اوله هغه نه به دسر ګرځېدل، دنظر کمزوری او نور مرضونه پېښېدل. خوله په حقیقت کښې یوراز زهر لرونکی مایع دی اوځمونږ بانه هغه نه پرېږدی چه په سترګو کښې ننوزی. برسېره پردې، سترګې د انسان په وجود کښې ډېره ښکلی برخه ده چه بانه ئې ښایست لا زیاتوی.

آیا بوټی خوب کوی؟

یواځی نه لیدل اونه اورېدل د خوب تعریف نه، بلکه ترلږ ډېر کارنه وروسته آرام کول هم د خوب تعریف کیدی شی، نوله دی کبله بوټی هم په مختلفو وختونو کښې لږ ډېر خوب کوی. بوټی په ژمی کښې داوړی نه لږ کار کوی نو ویلای شو چه هغه (بوټی) ویده دی. شنه بوټی هم چه زرغونې پاڼې ئې رژېدلی وی ډېر کار نه کوی ځکه چه بېله زرغونو پاڼو څخه نه نشایسته جوړولی شی اونه شکره - نه نیلې ځغلولی شی اونه څانګې- نه غوټۍ نیسی اونه کوکی. نوددی خبرې مطلب دانه دی چه بوټی مړه شوی دی، بلکه هغه ژوندی اوجګ جوړ دی داچه کارنه کوی او ریښې نه ځغلوی ویده شوی دی، بوټی په څلیرو یشت ګړیو کښې ډېر لږ خوب کوی، دلمر په رڼا کښې په کاراخته وی او د کاربن ډای اکسایډ له تحلیل نه کاربن حاصلوی او له هغه څخه شکره، نشایسته او نور ضروری شیان جوړوی هر کله چه لمر پرېوزی دادرست کیمیاوی تعاملات ځای په ځای ودرېږی. په دې وخت کښې مونږ ویلای شو چه بوټی ویده شوی دی. هر کله چه بوټی ویده شی نو پاڼې یې ګونجی اومړاوی شی، مګر ځینی بوټی دی چه د شپې ئې پاڼې غوړ یږی، ګواکې داسې ونې لکه سویه په وازو سترګو خوب کوی.

سپی پر دی خلک څنګه پېژنی؟

دسپې سترګی خوړا تېزی دی مګر دبویولو قوت ئې له هغه نه هم زښت ډېر حساس دی، سپی پر دې خلک په مخصوص بوی پېژنی. که پر دی څوک دسپی د خاوند کالی وا غوندی نو سپی دمخ او صورت اختلاف نسی محسوسولی اودخپل خاوند دجامو په بوی هغه هم خپل بادار ګڼی اوپری غولېږی، امالږ ساعت پس ئې محسوسه کړی اوپوه شی چه د کورپه ځای ئې بوساړه سوری کړی ده اوڅه غلط فهمی شوی. ځناور عموما پخپل شامه حس باندی باور کوی خومونږ پرحس باصره باندی ډاډ کوو، برسېره دشامی پرحس سپی ډېره قوی حافظه هم لری چه ترډېری مدی پوری ئې بوی په یاد وی.

غوا څنګه شدی کوی؟

په بدن کښې ځینی داسې برخې شته چه جسم ته له هغه څخه ضروری شیان پیدا کېږی، او خلک ورته مرغېړی (غدودونه) وائی. مرغېړی د جسم کیمیا ګری برخی دی اوداپه څوډوله وی:-

ځینی مرغېړی دی چه له وینی نه غیر ضروری اجزا د مقطیر په وسیله بهرته باسی، په پوستکی کښې هم داسی غدودونه شته چه خوله بیرون باسی.

د سرپه لاندې برخه کښې غوږونه مخامخ هم یوقسم مرغېړی شته چه د هغوله خلاصېدو او بیرته

کېدونه «ممپس» (دمړۍ تېرولو تکلیف) پیدا کېږي. دامرغېړي یوراز ناړي (لعاب) جوړ وي چه دخوړلو په وخت کښې پیدا کېږي چه ډوډۍ پستوي او هضم ته ګټه رسوي. مرغېړي ډېر اقسام لري اوزیاتره ئې ګټوردي چه ډېري فایدې لري.

غوا له غولانځي لرونکو څارویو څخه ده، دښځو په غولانځو کښې هم یوډول مرغېړي شته چه وینه په پیو بدلوي. که مونږ دغوا غولانځ ترمایکر سکوپ لاندې مطالعه کړونو ډېرواړه واړه رګونه به پکښې را ښکاره شي چه وینه پکښې حرکت کوي، مرغېړي له دې وینې څخه ضروري اجزا اخلي اوشیدې جوړوي. دحیواناتو دجسم له دې انتظام څخه د قدرت مینه او محبت لاښه څرګند ېږي.

کوتره څنګه خپله لار پیدا کوي؟

داحیرانه ونکې خبره له ډېرې مدې څخه همداسې غوټه او لاینحله پرته ده چه کوتره څنګه خپله لار پیدا کوي؟ په داسې حال کښې که په یوه سرپټي صندوق کښې واچول شي اوله خپل ځایه لري په بل ځای کښې پرې ښودله شي بیاهم خپله لارنه ورکوي. ډېرخلك داګمان کوي چه کوتره دبصارت په زور خپله لار پیدا کوي. هو! کوتره عجیبي سترګې لري که هر څومره اوچته والوزي نظر ئې ښه کار کوي اولرې لري ځایونه په آسانۍ لیدلی شي، همدغه وجهه ده چه دخپل ځای پته معلومه وي. خو کله کله کوتره هم په ګام کښې خطا او کوښښ کښې ناکامه شي. زړې کوتري دکور په میندلو کښې پخې اواستاذې دي.

بصارت خوئي لاپرېږده چه دکوتري حافظه هم ډېره غښتلي ده په تیره بیا ددوی مقامي حافظه، کوتره چه څوځایه ووینې نود هغوله مخې خپل ځای میندلی شي، بر سېره پر دې په کوترو کښې دسمت احساس هم ډېر ښه دي په همدغه لحاظ به پخوا زمانو کښې چه دحمل او نقل وسایل لږ وو نودخط دوړلو کارئي له کوترو څخه اخیست. دهغې زمانې دکوترو ډاګ ډېر مشهور دي.

شنه او سره (قوس قزح) کوم خوا لیدل کېږي؟

که تاسې شنه اوسره په غور سره ووینې نودا ټکي به څرګند شي چه هغه تل دلمر مخالف سمت کښې لیدل کېږي. شنه اوسره په ماز بګر کښې دلمر ختو پلوته اوسهار دلمر پر ېوتو خواته معلومېږي ددې وجهې په پوهېدلو دقوس قزح په ماهیت ځان خبرول ضروري خبره ده.

هر کله چه له بلوري ښیښې څخه دلمر وړانګې تېري شي نوهغه په اوه رنګونو بدلېږي. که داوړانګې په سپین کاغذ وغور ځول شي. نود بنفش، نیلي، شنه، زرغون، ژیړ، نارنجي اوسره رنګونو یوه اوه رنګه پټۍ نظر ته راځي. دې اوه رنګه پټۍ ته د ساینس په ژبه «تیف» وائي.

بلور پرېږده، که دنمر وړانګې داوبو له وړووړو څاڅکو څخه هم تېري شي همدغه اوه رنګه تشکیلوي. هرڅوک کولی شي دا زړه وړونګې منظره ووینې! څنګه؟

که ددوبي او تودوخې په ورځو کښې څه اوبه په خوله کښې ونیسو اوپه زوریې پف کړونو ضرور به دا په زړه پورې تماشه مشاهده کړو. ددې وجهه داده چه دلمر وړانګې داوبو له وړو وړو څاڅکو سره هماغه عملیه کوي کومه چه دښیښې له وړي مثلثي ټوټي (بلور) سره کوي. نو هر کله چه فضا داوبو له براس څخه ډکه وي او دلمر وړانګې له دې څاڅکو څخه تېرې شي په آسمان کښې په اوه رنګه یوه لینده لیدله کېږي چه هغه شنه او سره (قوس قزح) بولي.

نوڅرګنده شوه چه په هرسمت کښې لمر وي په هغه خوا کښې شنه اوسره نه، بلکه همیشه په مخالف لور کښې لیدل کېږي.

دکابل دشا وخوا یوه منظره

اهداء

دا کتاب چه دپښتو او پښتو ټولګې په باب

لیکلی شوی دی د هغه چا حضور ته اهدا کوم

چه په پښتو او پښتو ټولګې مین دی

قیام الدین «خادم»

پښتو نولی

یعنی

دپښتنو نفسیات

او ملی قوانین

قیام الدین «خادم»

پښتنولی

ددې کتاب اهمیت پخپله د کتاب پنا مه کښې په دا سې ډول ښکاره دی اکه بوی ، رنګ .ښا یست چه د ګلو نو په غو نچه کښې یو ځای هر چا ته ځان ښئیی . پښت او پښتو ن د پښتو تا ریخی قومی نو م دی ، پښتو د د وی خو زه او د ر نه ژ به د ه پښتیخا ، پښتو نخوا د د وی داو سېدو اوزیږید نی تا تو بی دی ، پښتو او پښتو نو لی د د وی د د و د و نو ، عادتونو او ر واجونو لو یه نا مه د ه نو په د ې لحا ظ د پښتنو لی په رڼه هیندا ر ه کښې د د ی قوم در و حیا تو سپېڅلی مخو نه په ښه ښا ن ځلیږ ی او د وی د نفسیا تو ښکلی ار خو نه پکښې له بلی خواچه دا مهمه موضوع د پښتو د یو قوی او پوخ لیکوا ل ښاغلی خا د م په قلم لیکل شوې د ه نوز مونږ په نظر د دی کتا ب اهمیت لازیا توی او مونږ ته جر ئت را کوی چه دا کتا ب هم د کا بل په مجله کښې او هم ځا نله نشر کړو .

پښتو تو لنه د خپلو نو ر و غوره آثا ر و په سلسله کښې دا ا ثر هم د پښتو او پښتنو لی مینا نو ته وړا ندې کوی او له خدا ی نه غوا ړ ی چه د ا علیحضر ت محمد ظا هر شا ه په نیک مرغه دو ره کښې پښتو او پښتا نه د ترقی لو ړ و پوړو ته و ر سېږ ی او په نړ ی کښې د نو ر و قومونو اوژبو په شان دعزت ځای ومومی .

(صدیق الله رشتین د پښتو تولنې لوی مدیر)

پښتنولی

مخکینۍ خبری : دنیا تاتو اوحیوا ناتو په شان بلکه دهغو نه زیات انسان هم دقدرت د کرشمو یو عجیب و غریب مظهر دی . دافرادو تشخصات خولا پرېږده خپله دهرقام ، هرملك اوهرنسل په منځ کښی دومره لوی لوی فرقونه موجودی چه پرته دانسانیت د کلی مفهوم څخه په دوی کښی بل قسم اشتراك لیدل کیږی نه !

طبیعییونو دانسان دنوع مابه الامتیاز درنګ ډول ، قد ، قامت او دد ماغی ساخت اختلاف مقرر کړیدی او په دې لحاظ سره ئی دانسان نوع په سپین ، تور ، سور او زېړ اقساموو ېشلی دی بنا په دې وېش دانسان نوع په څو محدو دوقسموو ېشل کېږی ، ولی په دنیا کښې داسی ډېرقومونه شته چه په ظاهری خط وخال کښې چندان فرق نه لری لېکن سره ددې هغوی په قومیت کښی بیل دی دهغوی احساسات جلادی او ددی احساساتو اوجذباتو داختلاف په سبب د دوی عقاید . تمدن اوددوی علوم اوفنون دنورو قومو څخه بېل شوی دی ، دغه دی چه مونږ وینو چه د ډېرو اېشیائی اقوامو په منځ کښی څه څرګند جسمانی اختلاف نه شی لېدلی لېکن بیاهم یوقوم نه شمېرل کېږی په دې چه ددوی په منځ کښی یو عقلی فاصل حدقایم دی چه دغه فاصل ددغه اقوامو تاریخ سره بېل کړی دی . نوله دغه پورته سبب څخه ځینو علما ؤددې متشابه الخلقت قومونو دو بش معیار ، ژبه ، مذهب او د سیاست دنظام اختلاف مقرر کړی دی ولی داهم نه ده صحیح ! اصله خبره داده چه انسان یوازی د یو څو جسمانی اعراضو دمجموعی نوم ندی . بلکه دی په خپل ځان کښی یو کلك روح ، ټینګه سجیه اوراسخ اخلاق هم لری .

د عناصرو دترکیب نه چه کوم مزاج پیدا کېږی ددینه علاوه یو عقلی مزاج هم شته چه په استقلال ، استحکام اوکلکوالی کښی د جسمانی اعراضو څخه په هیڅ شان کم نه دی . داعقلی اواخلاقی اوصاف چه ددوی د مجموعې نه پر هر قوم کښی یو مشترك روح پیدا کېږی دزمانی د سوونو کالو د ګرد شونو نتیجه وی نو ځکه داد هرقوم دتېرو وختونو خلاصه او د دوی دپلرو او نیکونو وراثت اوددوی دموجوده روش ړومبۍ مبدا حسابېږی . دغه اوصاف که څه هم په ځینو افراد واوو ګړو کښی متفاوت اوسی ولی دجسمانی عوارضو غوندې دقام په زیاته برخه کښی مشترك لیده کېږی اودا دجسمانی عوارضو په شان تل دنوی نسل سره نوی او تازه

کېږی ددغو اوصافو د مجموعی نه هغه عام وصف پیدا کېږی چه هغی ته دیو قام اخلاق وائی، ددغو پورته ممیزاتو او بیلو ونکو په ذریعه یو قام د بل څخه پېژندل کېږی، ددغه متحده عقلی مزاج په لحاظ مونږ ویلی شو چه قام تش د خپل مورو پلار اولادندی بلکه د خپل پوره خاندانی سلسلی زوی دی د هر قام د اخلاقو د نظام پیدا کونکی ددوی پلرو نه او نیکونه دی او هر فرد همیشه د دغه زنځیر خواته راښکل کېږی چه دی ئی روستنۍ کړی حسابیږی نو انسان د وطن د مور پرستش تش د جذباتو او احساساتو په لحاظ نه کوی بلکه د دغه جذبابو په پیدا کولو کښی د جسمانی نظام په شان د مورثی اخلاقی نظام عنصر هم شامل دی

د مورو ثی اثراتو نه علاوه آب هوا، جغرافیائی حدود، او ماحول هم اثرلری ولی دا اثرونه د مورو ثی اثراتو نه لاندې درجه لری.

قام د هغهٔ مجموعه خلیاتو سره مشابهت لری چه د هغی نه هر فرد پیدا شوی دی د دغهٔ خلیاتو د ژوند زمانه پخیلهٔ ډېره لږه وی، لېکن د هغو نهٔ چه کوم ذات پیدا کېږی، هغه ډېره موده ژوندی اوسی دغه رنګ د قوم هر فرد یو ډېر لږ محدود شخصی ژوندلری لېکن دده کلی ژوند چهٔ د ټول قوم د ژوند څخهٔ عبارت دی، ډېر اوږد او پاتې کېدونکی وی دغه روستنی ژوند ته «قومی ژوند» وائی او قام تل د هغه د اثارو او نتائجو څخه متأثر کېږی!

بنا پر دې قام یو داسی پاتې کېدونکی ذات دی چه د زمانې د قیودو څخه آزاد دی چه د ژوندو افرادو د عنصر نه د مړو او پخوانو د خاورو د عنصر اثر په کښی ډېر لیدل کېږی، ځکه چه د هغوی تعداد د ژوند یو نه زیات وی او غیر شاعرانه ژوند ډېر د هغو د اثر لاندې وی ژوندی خو تش د قام تشکیل کوی. لیکن د عدم آباد او سېدونکی په دغه ژوندو افرادو کښی د خیالاتو او جذباتو روح پوکوی د قومیت اثر دومره قوی دی چه د دې اثر دو جود په حال کښی د تمدن مظاهر د هغه وخته پورې بل ته نه شی تللی تر څو چه خپله په دوی کښی تغیر او تبدل ونکړی شی د کوموا فکار و او خیالاتو چه په قام باندې عموماً اثر لوېږی دا په دوه ډوله دی.

۱ ـ هغه موقتی افکار او خیالات دی چه د ځینی موقتی حوادثو او واقعاتو په اثر د قوم په ذهن کښې پیدا کېږی.

۲ ـ هغه اساسي او غير فرعي افکار او خيالات دي چه د کوم مخصوص ما حول وراثت او نورو په اثر پيدا کېږي او رسوخ پيدا کوي . د اساسي افکار و او خيالاتو حال د هغو او بو په شان دي چه په درياب کښې پکلاره او سکون سره بهېږي او فرعي افکار د هغو وړو وړو چپوغوندې دي چه د درياب او بو ته څپېړې ورکوي او پيدا کېږي او ورکېږي ، ليکن سره د دې کموالي او ضعفه د درياب په ملاحظه او کتلو کښې همدوی ستر گوته راځي او ښکاري . نو دغه قومي روايات دي چه نسل په نسل همداسي مسلسل را درومي ، د دغو څخه قومي روح يا په بل عبارت سره د قوم عقلي مزاج تشکيلېږي . دغه روايات د قومونو په ټيټ وپاس او ترقي او تنزل کښې ډېر دخل او اهميت لري .

شاه ولي الله صاحب په حجة الله البالغه کښې ليکي جه « دا په يقين سره و منه چه رسم و رواج د تمدن سره هغه نسبت لري لکه د انسان زړه ئي چه د ده د جسم سره لري » هر کله چه هر قام بيل قومي روح ، ځانته عقلي مزاج ، عليحده قومي روايات او مخصوص رسم او رواج لري او دغه پورته شيان د هر قوم په تمدن او کوز وپاس کښې زيات اهميت لري او د هغو پېژندل د هر همدرد او خواخوږي له پاره ضروري دي نو زه غواړم چه په دې کتاب کښې د پښتنو په ملي عاداتو او خصائلو باندې يوه تته رڼا وغورزوم د دې موضوع ليکل علاوه د پورته گټو څخه د قومي روح د استحکام او ټينگوالي د پاره فائده لري . او دا د شکه وتلي خبره ده چه قومي روح چه هر څومره زيات پو خوالي ، اشاعت او نفوذ و مومي هما غو مره قومي اتحاد او اتفاق قوت مومي او نزاع او جگړه کمېږي په ، دې موضوع کښې ړومبۍ خبره چه پښتانه ورباندې د نورو قومو څخه ممتاز شوي دي هغه داده چه د وي د خپلو مليا تو او روا يا تو سره زياته مينه او ډېره دلچسپي او پوره عشق لري ځکه چه دوی دغه پورته ټول عنوانونه د ډېر اهميت په وجه چه دوی ئي ورکوي په خپله ژبه کښې را لنډ کړي دي او يوه کلمه ئي ورته وضع کړېده او د هغې کلمې زښت زيات احترام او لحاظ کوي گويا دغه د دوی د ژوند « نصب العين » دي !

هغه کلمه څه ده ؟ د (پښتنولۍ) خوږه کلمه ده ، د پښتون په نزد پښتنولۍ داسې يوه کلمه

ده چه په دې کښې هغه ټول شیان پراته دې چه ددوی دقومی روح اوتاریخی عظمت او ملی روایاتو بیخ اواساس شمېرل کېږی .

وګورئی؟ «پښتو» ددوی د ملی ژبی نوم دی «پښتون» د دوی د قوم او پښتو نخوا د دوی د وطن نوم دی او د همدې لفظ څخه د (پښتنولۍ) معنی دار لفظ جوړ شوی دی . دد غو د رو کلمو لفظی تناسب چه په یو عمیق معنوی او روحی ربط باندې دلالت کوی د نور وقومو په لغاتو کښې هیڅ نه مونده کیږی .! (پښتون) د هغه قام نوم دی چه دآمو دریاب نه دا باسیند د غاړې پورې اود کشمیر نه دبلوچستان اوسیستان د شګو اوبحرهندپورې دجګو غرو په منځ کښې پروت دی . چه ددوی د هرفرد د پراخ تندی ، متناسب او ښکلی قوارې ، تورو وېښتو ، غنمې رنګو ، تېز واو بر ېښېدونکو ستر ګو څخه سخا ، میلمه پالنه ، پېرزوینه عزم ، استقلال شجاعت او زړه ورتیا معلومیږی اود دوی هر یو په خپل ملیت (پښتنولۍ) خورا نازیږی او وربا ندې ویاړی . ددې قوم په دغه ملك کښې له ډېره پخوا څخه استوګنه ده ، هر کله چه په دنیا کښې یوازی او نیچرل قومونه ډېر لږدی نووی به چه ددوی په منځ کښې هم نورقومونه ګډ شوی وی ، ولی داقاعده ده چه لږ دډېر وتابع وی او قلیل په کثیر کښې مستهلکېږی نو دغه لږ تعداد د پښتنو دزیات اوقوی قومیت سره داسی خلط اومزج شوی دی لکه غوړی دشودوسره ! چه اوس ئی په قومی روح او اساسی افکارو کښې هیڅ بېلتون نه شی کېدلی دغه دی اوس مونږ دپښتنولۍ عنوان په لاندې برخو وېشو او په هر یوه باندې بېل بېل بحث کوو .

ولی دموضوع داهمیت وسعت اوباریکۍ له کبله زه نه شم ویلی چه ددی موضوع حق به ادا کړی شم نوځکه زه په ډېرې خوشحالۍ دهغو ذواتو دزیاد ، زحمت اوزهیرتیا څخه استفاده کوم چه په دې موضوع کښې ئی له مانه مخکښې څه لیکلی دی او ما ته معلوم دی نودخپلی مدعاتکی انوم اودخپلو یاد داشتو اومشاهدو سره ئې پیوندوم او که بیاهم په مضمون کښې څه نقص پاتی شی هغه د نورو پښتنو و رونو همت ته پرېږدم

(قیام الدین خادم)

د پښتو قصې

مادر ته نه و یل چه ما پېژ نی ؟

یو سړی دچا کره مېلمه ؤاو هلته و ر ته نو یو سړ ی وویل چه ماهم دغې مېلمسیاته درسره بو ز ه میلمه و ر ته و ویل چه تاته به کوربه څه وائی ؟ ده ورته وویل چه ماته به طفیلی وائی یو بل سړی ورته وو یل چه ماهم در سره بوزیء! مېلمه ور ته وو یل چه خیر تاته به کوربه څه وائې ؟ ده ورته وویل چه ماته طف طفیلی وائی ! دریم ورته وویل چه ما هم درسره بوزیء مېلمه تری پښتنه و کړه چه تا ته به کور به څه وائی ؟ ده ور ته وو یل چه تاسو ماله ځان سره بوزیء کوربه به ماپخپله وپېژنی ! بیادغه څلورواړه د کوربه کره ور غلل نو کوربه مېلمه ته وویل چه ته خومېلمه ئی اودابل طفیلی دی اودغه دریم طف طفیلی دی مگر داو وایه چه دغه بل احمق موله کو مه ر ا ؤ ست : نو د غه څلو ر م مېلمه پر ې را خیز کړ چه مادر ته نه ویل چه کور به ما پخپله پېژنی!

چه ستامور مړه شی

یو کوچنی هلك له خپل پلارنه پوښتنه و کړه چه دادا ! عمومي جنگ به کله خلاص شی ؟ پلارئی ورته په ځواب کښې وویل چه ستامور مړه شی !

چه تېره شی بیا تېره شی

یو کوچنی هلك له خپل پلارسره داغزې بوتی ته ولاړ دی نوله پلا رنه ئی پو ښتنه و کړه چه پلاره دااغزی چاتېره کړیدی ؟

پلار : ځویه داخدای باچاتېره کړ یدی !

ځوی : دابه ئی به څوور ځوکښې تېره کړی و ی ؟

پلار : توبه وباسه خدای باچا چه ورته ووائی چه تېره شی بیا تېره شی .

هلته دررسېږم

یو سړی ؤچه دودی ئې زرزر خوړه نوبله ورځ له خلکوسره به پینډه کښې ناست دی وریجی خوری ده چه پخپل مخکښې وریجی خلاصې کړی نو یو بل سړ ی له خپلې مخې

نه وریجی راواخیستی او دده په مخکښې ئی واچولی نوده ورته وویل چه ځان مه په غدابوه زه هلته در رسیږم !

له وړوسره تو کې کوې؟

یو کوچنی په منګی کښې خپل ځان ولید نوسرئی ورته وخوزاوه هغه هم ورته سر وخوز اوه. نو پلار ته ئی غږ کړچه دادا ! په منګی کښې څوك دی اوماته سر خوزوی پلارئی چه راغی او په منګی کښې خپل ځان ولیدنو منګی ئی پورته کړاو په ځمکه ئی وویشت چه په دا غټه زیره له وړو سره تو کې کوې ؟

زه خوبه ئی بیا له سره ونیسم

یو غبی طالب ؤ چه سبق به ئی ووایه نو په کتاب کښې به ئی نښه کېښوده ' یوه ورځ ئی چا له کتاب نه نښه پټه کړه نوده وویل چه زه خوبه ئی بیا له سره رأونیسم خووایه داستا نیت !

کنز او منځ

یوملا له شاګردنه پوښتنه وکړه چه څه شی وائی ؟

شاګرد :- کنز

ملا :- د کنز کوم ځای وائی

شاګرد :- منځ

دا ګوډه پښه مې حال وائی

یوشپانه مېږه په پښه وویشته او ګوډه ئی کړه نومېږې ته ئی وویل چه په کور کښې مې بادار ته ونه وائی چه زه ئی ګوډه کړم.

مېږه - زه خوبه حال ونه وایم خود ا ګوډه پښه مې حال وائی !

چورمې کافر کوی!

یوسړی به پېشلمی کاوه مګر روژه ئی نه نیوله نوچا ورته وویل چه روژه نه نیسی نو پېشلمی څله کوی ؟ ده ورته وویل چه ولی چورمې کافر کوی .

دخره غولول

یوسړی له ویا لی نه په خره مالګه تېروله مګر د خره داعادت ؤچه دویا لی په منځ کښې به ځملا ست اوما لګه به او بو ویلې کړه اوخر به خا لی کورته لاړ بله ورځ د غه سړی فکرو کړ چه دغه خره خو عجیبه چل زده کړیدی نو بله ورځ ئې ور ته مالوچ بار کړل خرچه ویا لی نه را غی ځملاست مګر چه جګ شولس منه مالوچ ئی شل منه شوی ؤ نو بیا به چه خرو لې ته را غی نه به ځملا سته !

داسپې هګۍ

یو اطرافی سړی با زار ته راغی اوهند وانه ئی ولیده نو د کا ندار ته ئی وو یل چه داڅه شی دی ؟ هغه ورته وویل چه دا خوداسپې هګۍ ده نوده ورته وویل چه دا به ماته رانکړی؟ هغه ورته وویل چه داخوسل روپۍ قیمت اری، ده وویل چه اوس لا هم ارزانه ده لنډه داچه داهند وانه ئی ترې په سل روپۍ واخیسته اوشانه ئی راواچوله او کو ر ته روان شو دی په لاره روان دی چه د یو ې غونډۍ سر ته ورسیده ، هندوانه ئی کېښوده اودمه ئی جوړ واه چه په دې کښې هندوا نه له غو نډۍ نه ور غړ یده اولا ندې یو ې کندې ته وغورزیده او د غور زیدو سره سم ماته شوه په دې کښې له یو بو ټی نه هو سۍ تر پلودل نو دی ورته په نارو لګیا شو چه کرو کرو هله ماته راشه خدایږو چه من دانه خو در کړم ته چیرې درومې ؟

هوسۍ پخپله مخه لاړه او دی کورته خپه دلګیر راغی ، ښځی ترې پوښتنه و کړه چه ولې خپه ئی ؟ ده ورته دهندوانی قصه له سر نه را شروع کړه نو آخر ئی ښځی و ر ته و و یل چه که هغه بیان دې را وستلی وای نوزه به پرسپر بدلم ده په ښځی پسې کوتك را وا خیست اوخو ډبه ئی ترې وښکل اوورته ئی په ډېره غصه وویل چه هغه وړو کی بیان ؤ که ته پرې سپره شوې وای خو ملا به دې ورله ما ته کړې وه !

هاغه لمړی تقریر خوو کړه

دیوسړی پهچاپور ؤچهپه ډېرو تلور اتلوئی ورته دپښو واړه واو ښتل بله و رځ ئی خپل قرض دار گیر کړ اوخپل پورئی ترې وغوښت مگر قرض دار ورتهپه ترخهلهجهویل چهزه خودې پهحق منکر نهیم ! نادیده سړیه پهعمر کښی دې له چاسره پور نه دی کړی اودادی اوهغهدی نودغهسړې ورته وویل چهپیسی خونه را کوی مگر هاغه لمړی تقریر خوو کړه په کوم وخت کښی چه زمانهدې پیسی پو رولې؟

توبه

یوه پېغله وهتوبه نومیده چهیوسړی پری مین ؤ دغهسړی دا کوشش کاوه چه لا س ئی برشی اوتوبه دشپی له کوره و کاږی اووئی تښتوی نویوه شپه دغهسړی دما سختن لما نځه دپاره جماعت تهراغی دلمانځه نهوروسته ملا کلی والوتهمسئلی شروع کړی اول ئی ور ته داوویل چه مسلمانانو ! دتوبی دروازه خلاصهده نوبایدچهتوبه وباسی ملاچهداخبره و کړه دغه سړی اوچت جگ شو اوملاته ئی وویل چهملاصاحب پلارئی توبه ماتهپه وړو کتوب کښی را کړی دهدچا پلارخوبه ئی رانه ونهباسی .

بل ورته راولئی

پهیوه سړی باندی قاضی حکم و کړچه په غرغره شی ، دی ئی چه غرغرې تـه ودراوه دغه سړی ټیټ اوغرغره جگهوه نومحافظین پهمنډه قاضی تهراغلل چهصاحب غرغره جگه اوسړی ټیټ دی نوقاضی ورته وویل چه کوم بل جگ سړی ورته راولئی

ماهم لا دچار وغ لیدلی نهدی

یوپك سړی پکهښځهو کړه څوورځی چهتېرې شوې دمېړه ئې ورسرهورانهشوه او دخبرې دپاسه به ئی ورته ویل چه بلادې په داپك سرشه ! پکې پك سرې ،دا ښځه غریبه ډېره غمجنه شوه بله ورځ چه مېړه ورته وویل چه بلادې ووهه په داپك سر ! نو دې ور ته په ورووویل چه ماهم لادچا روغ لیدلی نه دی !

د بیضاوی شریف متن

یو سپین زیری سړی قرآن شریف شروع کړ اوله ملانه به ئی سبق وایه مگر په دې چا خبر کړی و ، چه قرآن شریف د بیضاوی متن دی نوچابه چه تري پو ښتنه و کړه چه با با سبق څه شی و ا ئی ؟ نوده به ورته ویل چه دبیضاوی شریف متن !

چه غټ شی ورته بقر وائی

د یو طالب نه چابو ښتنه و کړه چه خوسی ته په عربی څه وائی ؟ طالب ته په عربی کښې دخوسی لفظ معلو مه نه وو نو په حاضر جوابی ئی ورته وویل چه خوسی ته په عربی نوم نه اخلی خوچه غټ شی بیاورته بقر وائی !

یې خو یې خو پنځه روپۍ نشته

یوې ډلې ملگرو پنځه روپۍ ناغه کښوده چه هرچا بل ته احمق ووایه نو پنځه روپۍ ناغه با ور کوی ، په دی ډله کښې یوزړه تنگی سړی وچه خواله ئې هم نه ودرېده ا و پنځه روپۍ ئی هم نه درلودې نودخپل زړه دبادو دښکلو دپاره ئی بل ملگری ته وو یل چه ئی خوئی خو پنځه روپۍ نشته !

دده به اجل وواو که نه په دی

رسیءخوما ډېرې بو کې

راوښکلی دی

یو سړی دونی په سر کښې بند پاتی شوی وو اورا کو زېدلی نه شود کلی خلك راغوند شول اوونی ته راغلل چه داسړی په څه هنر را ښکته کړی دخبری چاره هېچا و نه شوه کولای اخر یو سپین زیری راغی اوخلکو ته ئی وویل چه زه به تر څو پورې ژوندی یم او تاسی ته به عقل درښیم ، ورشی یوه رسۍ راوړی یوسړی په منډه لاړ اور سۍ ئی راو ړه سپین زیری درسۍ سر دونی سر ته ورغوزار کړ او هغه سړی ته یی وویل چه د رسۍ په سر دې ملا کلکه وتړه سړی دونی په سر کښې په رسۍ ملا وتړ له، سپین زیری خلکو ته وویل چه درسۍ داسرونیسی خو چه مایو دوه درې و ویل په یو قوت ئی را کش کړیء

خلکو درسی سرونیو او سپین زیری وویل چه یو، دوه، دری په دې کښی خلکو په یو قوت رسی راکښ کړه او سړی ئی دونی نه راوغور زاوه چه په ځمکه ولګېد نو ساه ئی وخته خلکو سپین زیری ته وویل چه دا خودی په مونږ سړی مړ کړ دادې څه چل و کړ نو ده ورته وویل چه د ده به اجل راغلی وو، او که نه په دې رسی خو ماډیرې بو کی له څاګانو نه راښکلی دی .

دا میاشت رالوېدلې ده

یو سړی په لار کښی داس نال ومینده نو حیران ورته پاتې شو چه دا به څه شی وی ؟ خوله ډېر فکر او چرت نه و روسته ئی دا فیصله و کړه چه یاره دادا ولې ورځی میاشت را لوېدلی ده ؟

چه پښو ته مې راولوېدی

نو اوس دې نېسم

یو سړی او رېدلی وچه چا دروژی میاشت ولیدله نو بیا دې روژه نیسی نو چه میاشت راوختله ده هېڅ اسمان ته نه کتل او میاشت ئی نه لیدله بله ورځ ماښام دا و بو په ویاله پوری و وت چه په او بو کښی ئی میاشت ولیدله نو میاشتی ته ئی وویل پښو ته می راولوېدلی نو اوس دې نیسم

مېلمه او کور به

یو چالاک سړی په چا مېلمه شو نو کور به ورته وویل چه مېلمه! چرګان نه لرو بل چه هر شی وائی درته به ئی پوخ کړو!

مېلمه: ولی هاغه سپین چرګ ؟

کور به: هغه خو داذان دپاره دی مېلمه : ـ نه نه هاغه بل ؟

کور به : ـ هغه شین چرګ ښئی ؟ هغه موجنګ ته ساتلی دی!

مېلمه ـ نه نه هاغه بل ؟

کور به ـ هغه برګ چرګ ښئی ؟ هغه زماد زوی دی!

مېلمه ـ نه نه هاغه بله !

کور به ـ هغه توره خړه چرګه ښئی ؟ هغه خود هګیو ده !

مېلمه ـ ته ته هاغه بله

کور به ـ هغه شنه چر گوتۍ ښئې ؟ هغه خواوس په هګیو راځی!

مېلمه ـ څه نواوس می در ته پنځه شپږ چر گان پیدا کړل هماغه دهګیو چر گوتۍ حلاله کړه !

خوشې جک مې واهه عرض مې نه کاوه

یو ظالم بادارؤ چه پخپل نو کر ئی ظلم کاوه او په ډیرو وهلو ټکو لوئی ترې زړه ایستلیؤ بله ورځ دغه نو کر فکرو کړ چه قاضی ته ورځم او عرض ورته کوم چه زما له بادار نه التزام واخلی چه په ما ظلم ونه کړی نو یوه ورځ گوری چه بادار ئی په کور کښی نشته پټ په پټه روان شو او قاضی ته ورغی او دورایه ناری وهی چه قاضی صاحب دخدای دپاره عرض لرم دی چه قاضی ته ورغی گوری چه بادار ئی هم په دی ورځ دقاضی په مجلس کښی ناست دی ! نو قاضی له دغه نو کر نه پوښتنه وکړه چه هلکه څنګه راغلی ئی او څه عرض کوې؟ نو دی ورته وائی چه صاحب خوشی جک مې واهه عرض مې نه کاوه !

دبوتل غوړی

د کور یوې مېرمنی په بوتل کښی غوړی اچولی وو او سر ئی تړلی وو، د ډوډۍ په وخت کښی به ئی بوتل د دستر خوان په منځ کښی کېښود او هرچا به په بوتل پوری کپ مښوده بله ورځ دغه مېرمن چیر ته تللی ده او دروازې ته ئی قلف اچولی دی غرمه یو هلك کور ته راغی ډوډۍ ئی په بازار کښی اخستی وه دروازی ته ودرېده او کپ په قلف پوری موښی او بیائی خوری په دې کښی د کور مېرمن راغله او ده ته ئی وویل چه څه کوی ؟ ده ورته ویل چه دروازه قلف وه په قلف پوری می ډوډۍ موښم ځکه چه غوړی په کوټه کښی دی نو پلار ئی ورته وویل چه نامړه یوه ورځ دې هم سپوره نه تېریږې ؟

له ستونی مې ونیسه

یو سړی وچه پخپلو کالیو ډیر زهیر یده یوه ورځ ئی له چاسره جنګ شو او له گریوانه ئی ونیو ده ورته وویل چه گریوان می خوشی کړه او له ستونی مې ونیسه !

په‌دې زده‌م نه پوهېږم

یو سړی پر دې گازری وېنکلی او په بوجۍ کښې ئې اچولی وی چه ژاپه پرې دپټې خاوند راغی د گازرو غله ته ئې وویل چه داڅه کوې ؟ ده ورته وویل چه زه خو بادرا هوا گیر گړی یم او په دې گازرو مې ځان ټینگ کړیدی؟ دپټې خاوند ورته وویل چه په دې بوجۍ کښې چا اچولی دی ؟ ده ورته وویل چه په دې نو زه هم نه پوهېږم ؟

ښه دی چه څپلۍ مې په پښه نه‌و

یو سړی په لار روان‌ؤ چه په پښه کښې ئې میخ لاړ او پښه ئې وینې شوه نو له ځان سره ئې وویل چه ښه دی چه څپلۍ مې په پښه نه وه که نه څپلۍ سره به مې بیا څه کول ؟!

هوښیاره ناوې

یو سړی واده وکړ او ناوې ئې کورته راوستله په دې کاله کښې د ناوې په خوشالۍ په ښځو مېوه وېشل کېده یوې ښځې دواړه لاسونه دکوتې له ستنې نه اخوادې خواورتېر کړل او په لپه کښې ئې ور ته مېوه واچوله ښځه چه لاسونه را کاږی له لاسونه ئې مېوه توئیږی او که ئې نه را کاږی لاسونه ئې بند دی چه یو ناڅاپه غږ شو چه هلۍ ښځه بنده شوه خلك ټول په دی ښځه راټول شول چاویل چه کوته وسپړی ستن پورته کش کړی ،چاویل چه نه دستنې په بیخ کښې کوهی وکنیئی چه ستن ښکته لاړه شی .محشر جوړ شو ناوې دخلکو دیاده ووتله په دی کښې دغه ناوې حیرانه شوه چه داڅه چل وشو چه ښځه بنده شوه نو په دې کښې دغه ناوې دخلکو دمنځه راغله او دغی بندی شوی ښځی ته ئې وکتل چه ستن ئې دلاسو په منځ کښې ده او لپه ئې له مېوې نه ډکه ده .نو دخلکو دمنځ نه ورته راتېره شوه او دغې ښځی ته ئې پلو ؤنیو چه خورې دا مېوه دې زما په پلو کښې واچوه !دغی ښځی چه مېوه ددې پلو کښې وواچو له لاسونه ئې خلاص شو او یو دم په خلکو کښې شور ماشور شو چه پلانی داسی هوښیاره ناوې راوستلی ده چه بندیان خلاصوی .

بل ئې له هېچا مه پټوه

یو سړی بدرنگه ښځه کړی وه نو په دوهمه یا دریمه ورځ ئې مېړه وویل چه ما ته دې خپل خپلوان راوښیه چه زه له چا نه مخ پټوم او له چا نه ئې نه پټوم ! ده ورته وویل چه د غه بدرنگ مخ دې یو زمانه پټوه چه بل ئې له هېچا نه پټ نکړی -

لەدې خبرنەووچەدی هم ورورلری

دوه ور ونه وودخپل تره سره ئی جنګ ؤتره ئې راڅملاوه اوپه پښو پرې وختل چه پەدی کښې ددغو هلکانو پلارراغی ګوری چه ځامنو ئی خپل تره راڅملولی دی فی الحال یی تمانچه را وښکله اوخپل ځامن ئی په تمانچه وویشتل خلك چه راټول شول نوده ته ئی و ویل چه دا ولی؟ ده ورته وویل چه زما ځامنوزماورورواهه آیادوی خبرنه ووچه دی هم ورورلری

دخولې اوپوزې نسواری

یوسړی دخولی نسوار کول نو چاورته وویل چه دپوزی نسوارشروع کړه دخولې دنسوارو نه به خلاص شی هغه چه د پوزی نسوار شروع کړل اوڅه موده ئی دوام ورکړ آخر ددواړو عملی شوهم بەئې په خوله کښی واچول اوهم بەئی پوزه کښی!

دوړوکی فکر

دماشومانو عادت دی چه د۷ کلنی غاښ ئې ووځی نودغه غاښ نمرته واچوی او نمرته وائی چه زماغاښ درواخله اوماته دسروزروغاښ راکړه هر کله چه داخبره دماشومانو په ذهن کښی ناسته وه نو یوه ورځ یوهلك دخپلې مورسره ناست دی مورئی دپسه سر سپیناوه کوم وخت ئی چه دپسه غاښونه دسرنه و ښکل نومورته ئی وویل چه مورې دا غاښونه ئی نمرته ورغوزار کړه چه دسروز رو غاښونه ئی وشی!

دډانډس ژی

یوه سړی په ډله کښی خطائی و کړه پەدې ډله کښی یوخوش طبعه هم ناست وو له ډېر سکوت نه پس دغه خوش طبعه وویل چه دچا دډانډس په ژی چرګ ښښه کېښوده؟

دهوضمیر

یو معلم شاګردته وویل چه هوپه ضرب کښی پروت دی ده دضرب په کلمه پڅ چاقو راواخیست او هغه ئی وګروله چه په بله پاڼه کښی هولیکلی وه نوپه منډه استاد ته ورغی چه استاده دضرب نه مې (هو) راوښکه دغه دی وئی ګوره!

دادزیری نه مشردی

یوسړی دسرو ېښتان سپین اوزیره ئی توره وه نو چا ورته وویل چه پلانیه داڅه وجه ده چه سردی سپین اوزیره دې توردهٔ ؟ده ورته وویل چه زما سرله زیری نه مشردی ځکه چه زه له موره پیداشوم نودسر وېښتان می وؤاوزیره مې ۱۵ کاله وروسته راغلې ده !

زهم بڼیا کېږم

یوسړی دباز ارنه کورته گوړه یووړه اویوڅه بڅر کی ئی خپل واړه زوی ته ور کړه هلك چه گوړه و خوړه ډېره مزئی و ر کړه نو پلا ر نه ئی پوښتنه وکړه چه دا دا! دا گوړه دچا سره وی؟ هغه ورته وو یل چه دا بڼیا گا نوسره وی، ده ورته وو یل چه دادا زه هم بڼیا کېږم !

دخردجال جواب

خردجال ته چاوویل چه دنیا ته ولی نه راووځی ؟هغه ورته وویل چه دملگ نونه ېر ېږ م نه چه خرمی په بېگار کښی ورنکړی !

والله که ئې دروښیم

یوسړی دغاړې جامی په منگی کښی اچولی وی ، منگی ئی چپه به سرایښی واوپه بار ان کښی کلی ته راروان ؤ ، کلی ته چه رانز دی شو کالی ئی واغوستل اووج کلک کلی ته راننوت نوشیطان تری پوښتنه و کړه چه داچل خوماته راوښیه چه ته څنگه په دی باران کښی لوندنا شوی ؟ ده ورته وویل چه والله که ئی دروښیم !

په شپېز ورځو کښی

دیوه سړی نه چاپوښتنه و کړه چه که یوسړی په یوه ورځ کښی ٦ کرولار ووهی نوشپېز تنه به ئی په څو ور ځو کښی ووهی ؟ ده ورته وویل چه په ٦ ورځو کښی !

ته را کړه یوشپېز

یوسړی دانا روپه کوټه ناست ؤانارئی خرڅول ،خوارغریب به چه په لاره تېرېده اودا نار سوال به ئی و کړ نو یوه دانه به ئی ور کو له چه په دی کښی یو بی نز ا کته ملنگ را غی اودغه سړی ته نیغ ودرېد اولاس ئی ورته وینو چه را کړه یو شپېز !

په‌تېرو پنځلسو ورځو کښې دهیواد

او دپښتونستان مهمی پېښی

دمیزان له(۱) نیټی نه راپدې خوا یوشمېر دولتی عالی‌رتبه مامورین او د قبائلو ځینی مشران ددلکشا په‌مانۍ کښې داعلیحضرت معظم همایونی په‌حضور مشرف شوی دی .

دمیزان په(۵)نیټه اعلیحضرت معظم همایونی په‌داسې‌حال کښې چه‌ښاغلی دفوائد عامې وزیر هم دملوکانه‌ذات سره‌ؤ دچهل‌ستون دمانۍ بیلې‌بیلې برخی وکتلې .

دصدارت عظمی په‌مانۍ کښې والاحضرت صدراعظم دځینو قومی خانانو او قبائلی مشرانو ، ملکی او عسکری منصبدارانو سره وکتل .

❁ دآراؤ په کثرت ښاغلی محمد کبیر خان د غوربند وکیل د ملی شورا د لومړی معین په‌حیث ښاغلی محمدعثمان‌خان دمشرقی درودا‌تو وکیل ددوهم‌معین په‌حیث اوښاغلی محمدعلی‌خان قاضی زاده دهرات دپښتون زرغون وکیل د ملی شورا دلمړی منشی په‌حیث او ښاغلی لعل گل خان « فریاد » دجنوبی دولایت دازرې وکیل ددوهم منشی په‌حیث ټاکل شوی‌دی .

❁ ښاغلی محمد کبیرخان لودین دافغانستان ددائمی نماینده په‌حیث په‌یونو کښې مقرر شوی دی . او دمیزان په۱٤نیټه دخپلی وظیفی په‌لوری روان‌شو.

❁ داروپائی مملکتوسره دافغانستان‌دعرفانی روابطو دپراختیا اودپښتنی‌شاگردانو دلار ښوونې دپاره په‌دې ورځو کښې (په‌اروپا کښې دافغانستان دکلتوری روابطودریاست) په‌نامه یوه اداره منظوره شوی‌ده ددې اداري رئیس ښاغلی ډاکتر یوسف خان اواعضاءئې ښاغلی عبدالشکور خان او ښاغلی غلام‌محمدخان پوپل دی .

❁ په‌دې‌ورځو کښې ښاغلی دکتور اوسکارد(سوسیال ساینس ایسارچ کونسل نیویارك) دموسسې له‌خوا دپښتوژبې دتحقیق دپاره دفیلوشپ په‌ډول دپېښور په‌لاره کابل ته راغلی دی .

❁ په‌دی ورځو کښې دپښتواریانا دائرة المعارف اوومټوك دپښتو ټولنې دلوی مدیریت د پښتو دائرة المعارف له څانگې څخه په‌ملی ژبه (پښتو) په‌ښکلی قطع په(۲۰۲) مخونو کښې نوی چاپ او خپورشو چه‌په‌ښومعلوماتوشامل‌دی اودمحترمو لوستونکودمعلوماتو په‌زیاتوالی کښې ستر کومك کوی اودخرڅلاو دپاره په‌پاڼو ځای کښې ایښودل شوی دی .

❁ د میزان په دریمه ورځ دوازی خوا په‌حکومت کښې خلکو ، معززینو او دسلېما نخیلو قومی مشرانو غونډه وکړه اوښاغلی عبدالقدوس خان چه په ملا بزرگ صاحب مشهوردی دپښتو نستان د آزادۍ په شاوخوا کښې وینا وکړه اودپاکستان له‌حکومت نه ئی وغوښتل چه د پښتو نستا نیا نو حقوق ومنی .

دسنبلی په۱۹ شپه د منځنی پښتونستان یوه ټولگی آزادی غوښتونکو مجاهدینو د کرمې په‌پاړه چنار کښې (دتوبه) دکوټۍ پل په‌بم ونړاوه .

د پښتو ټولنې نوی کتابونه

پښتو قاموس

د پښتو قاموس اول ټوک په ښه ښکلی قطع په (٦٦٨) مخو کښې له چاپ څخه نوی راوتلی دی چه د پښتو ژبې د لغاتو یوه لویه پانګه لری - د پښتو مینان دې له پانو ځای څخه واخلی.

نوی ژوند

دا کتاب هم په ټهر کال کښې د پښتو ټولنې له خوا په ښائسته صورت چاپ شوی دی د پښتونستان د پیژندنې په باره کښې غوره اولنۍ معلومات لری ښه انتخابات او ښې ترانې هم پکښې شته په لږ قیمت له پانو ځای څخه لاس ته درتلای شی.

خوشحال ختک څه وائی؟

دا کتاب چه د خوشحال ختک پر وینا او یوه خوږه تبصره ده په ټهر کال کښې له چاپ څخه راوتلی دی حروف یې غټ او طبع ئې ښائسته ده ښایی چه له پانو ځای څخه ئې واخلی.

د عبدالحمید ښکلی خوندور دیوان

له چاپ څخه راوتلی دی د پښتو ژبې دا قیمتی اثر او د ناز کخیالی دفتر له پانو ځای څخه په ارزان قیمت واخلی.